عمومی دینی بنوونه

کال- ۱۳۹۰

مؤلف- نویداحمدغفوری

عمومی دینی بنوونه

مؤلف :
نویداحمدغفوری

ترتیب :
نویداحمدغفوری

نیټه :
۱۳۹۰ /۱ / ۱

ددی کتاب هر ډول چاپ، کاپی او برقی نشر بغیر د مؤلف د اجازی څخه منع دی


بسم الله الرحمن الرحیم

فهرست

شماره	موضوع	صفحه
۱	عقاید ۰	۱
۲	تفسیر ۰	۱
۳	حدیث ۰	۱
۴	تاویل ۰	۱
۵	توحید ۰	۱
۶	د توحید او صفاتو علم ۰	۱
۷	استعاذه ۰	۱
۸	تسمیه ۰	۱
۹	تهلیل ۰	۱
۱۰	ایمان او اسلام ۰	۲
۱۱	ایمان ۰	۲
۱۲	اسلام ۰	۲
۱۳	د ایمان او اسلام شرعی حکم ۰	۲
۱۴	صالحه اعمال ۰	۲
۱۵	د اسلام د دین ځینی شعائر (نبنی) ۰	۲
۱۶	د متقیانو صفات ۰	۲
۱۷	تخلیق او تقدیر د الله(ج) له طرفه دی ۰	۲
۱۸	تقوا او اعتصام په حبل الله(ج) ۰	۳
۱۹	د الله(ج) په وجود باندی عقلی دلایل ۰	۳
۲۰	ممکن ۰	۳
۲۱	عبادت ۰	۳
۲۲	الله(ج) حد او ضد نه لری ۰	۳
۲۳	د الله(ج) صفات ۰	۳
۲۴	د الله(ج) صفات نه عین ذات او نه غیرذات ۰	۴
۲۵	د الله(ج) کلام د موسی(ع) سره ۰	۴
۲۶	د الله(ج) کتابونه ۰	۴
۲۷	قرآنکریم د الله(ج) کلام دی ۰	۴
۲۸	معجزه ۰	۴
۲۹	قرآنکریم د حضرت محمد(ص) معجزه ده ۰	۵
۳۰	د قرآنکریم فضیلتونه ۰	۵
۳۱	د قرآنکریم راټولول او ساتنه ۰	۵
۳۲	د قرآنکریم د اخستلو ادب ۰	۵
۳۳	د قرآنکریم د تلاوت ادب ۰	۵
۳۴	د قرآنکریم علوم ۰۰	۵
۳۵	مکی او مدینی سورتونه ۰	۵
۳۶	د حضرت محمد(ص) رسالت او د قرآنکریم نزول ۰	۵
۳۷	د حضرت محمد(ص) معراج ۰	۶
۳۸	د حضرت محمد(ص) حقوق ۰	۶
۳۹	د حضرت محمد(ص) اولاد ۰	۶
۴۰	د انبیاء (ع) عصمت ۰۰	۶

۴۱	د حضرت عثمان بن عفان(رض) فضیلت ۰	۷
۴۲	د حضرت علی بن ابی طالب (رض) فضیلت ۰	۷
۴۳	له مرګ څخه وروسته ژوندی کیدل ۰	۷
۴۴	د عملنامی قرئت (لوستل) ۰	۷
۴۵	یمین ۰	۸
۴۶	د معصیت بیان ۰	۸
۴۷	کبائر ۰	۸
۴۸	تلفین ۰	۹
۴۹	تقلید ۰	۹
۵۰	نکاح ۰	۹
۵۱	د نکاح ارکان ۰	۱۰
۵۲	په نکاح کښی د ولی صلاحیت ۰	۱۰
۵۳	مهر ۰	۱۰
۵۴	قَسم ۰	۱۱
۵۵	د ښځی نفقه ۰	۱۱
۵۶	د نکاح فضایل ۰	۱۱
۵۷	د نکاح په اړه ځینی احکام ۰	۱۱
۵۸	د نکاح محارم ۰	۱۲
۵۹	د نکاح حکم ۰	۱۲
۶۰	توبه ۰	۱۳
۶۱	امربالمعروف و نهی عن المنکر ۰	۱۳
۶۲	د مومن او متعد قتل ۰	۱۳
۶۳	د یتیم کفالت ۰	۱۳
۶۴	د علم فضیلت ۰	۱۴
۶۵	د آدم(ع) علم ۰	۱۴
۶۶	د نوح(ع) علم ۰	۱۴
۶۷	د داود(ع) علم ۰	۱۴
۶۸	سلیمان(ع) ۰۰	۱۴
۶۹	د قبرونو د زیارت آداب ۰	۱۵
۷۰	توسل ۰	۱۵
۷۱	د الله(ج) نعمت ته نږدی او لری کسان ۰	۱۵
۷۲	د تاوان څخه د خلاصون لاری ۰۰	۱۵
۷۳	د قیامت په ورځ د بنده ګانو تقسیم ۰	۱۶
۷۴	عالم برزخ ۰	۱۶
۷۵	هُمزه او لمزه ۰	۱۶
۷۶	هاویه ۰	۱۶
۷۷	اصحاب صفه ۰	۱۶
۷۸	د ښځی غوره اوصاف ۰	۱۶
۷۹	انسی او جنی شیطان ۰	۱۶
۸۰	حسد او غبطه ۰	۱۶
۸۱	بیع ۰	۱۶
۸۲	د بیعی ارکان ۰	۱۶
۸۳	د بیعی شرطونه ۰۰	۱۶
۸۴	د بیعی ډولونه ۰	۱۷

۸۵	په بیع کی خیار ۰	۱۷
۸۶	د بیعی ځینی ډولونه ۰	۱۷
۸۷	باطله او فاسده بیع ۰	۱۷
۸۸	مکروه بیع ۰	۱۸
۸۹	ربا (سود) ۰	۱۸
۹۰	سلم ۰	۱۸
۹۱	صرف ۰	۱۸
۹۲	کفالت (ضمانت) ۰۰	۱۸
۹۳	حواله ۰	۱۹
۹۴	وکالت ۰	۱۹
۹۵	شرکت ۰	۱۹
۹۶	مضاربت ۰	۲۰
۹۷	ودیعت ۰	۲۱
۹۸	هبه ۰	۲۱
۹۹	اجاره ۰	۲۱
۱۰۰	غصب ۰	۲۲
۱۰۱	شفعه ۰	۲۲
۱۰۲	مزارعت ۰	۲۳
۱۰۳	میراث ۰	۲۳
۱۰۴	د میراث د علم تعریف ۰	۲۳
۱۰۵	د میراث د علم موضوع ۰	۲۳
۱۰۶	د میراث د علم غرض ۰	۲۳
۱۰۷	د متروکی پوری متعلق حقوق ۰	۲۳
۱۰۸	د متوفی د مال مستحقین ۰	۲۳
۱۰۹	د ارث موانع ۰	۲۴
۱۱۰	د معلومو برخو خاوندان (اصحاب الفرائض) او د هغو برخی ۰	۲۴
۱۱۱	۱- پلار ۰	۲۴
۱۱۲	۲- نیکه ۰	۲۴
۱۱۳	۳- اخیافی ورور او خور ۰	۲۵
۱۱۴	۴- زوج (میړه) ۰	۲۵
۱۱۵	۵- زوجه (ښځه) ۰	۲۵
۱۱۶	۶- بنت (لور) ۰	۲۵
۱۱۷	۷- بنت الابن (د زوی لور) ۰	۲۵
۱۱۸	۸- اعیانی خویند (هغه چی د مور او پلار دواړو څخه وی) ۰	۲۶
۱۱۹	۹- علاتی خویندی (د پلار د خوا خویندی) ۰	۲۶
۱۲۰	۱۰- أم (مور) ۰	۲۶
۱۲۱	۱۱- جده (انا) ۰	۲۶
۱۲۲	۱۲- اخیافی خور ۰	۲۷
۱۲۳	عصبات ۰	۲۷
۱۲۴	د عصباتو ډولونه ۰	۲۷
۱۲۵	حجب ۰	۲۷
۱۲۶	د سهامو (برخو) مخرجونه ۰	۲۸
۱۲۷	عول ۰	۲۹
۱۲۸	د عددونو تر منځ تماثل، تداخل، توافق او تباین پیژندل ۰	۳۰

۱۲۹	تصحیح ۰	۳۰
۱۳۰	د مسائلو د تصحیح اصول ۰	۳۰
۱۳۱	د تصحیح څخه د هری طایفی او هر شخص د برخی پیژندل ۰	۳۱
۱۳۲	د وارثانو تر منځ د متروکی تقسیمول ۰	۳۱
۱۳۳	تخارج ۰	۳۱
۱۳۴	رد ۰	۳۲
۱۳۵	د رد مسائل ۰	۳۲
۱۳۶	حمل ۰	۳۲
۱۳۷	د قرآنکرم ځینی سورتونه د هغوی د تفصل سره ۰	۳۳
۱۳۸	د فاتحی سورة ۰	۳۳
۱۳۹	د بقری سورة ۰	۳۳
۱۴۰	د القارعه سورة ۰	۳۴
۱۴۱	د تکاثر سورة ۰	۳۴
۱۴۲	د عصر سورة ۰	۳۴
۱۴۳	د هُمزه سورة ۰	۳۵
۱۴۴	د فیل سورة ۰	۳۵
۱۴۵	د قریش سورة ۰	۳۵
۱۴۶	د ماعون سورة ۰	۳۵
۱۴۷	د کوثر سورة ۰	۳۶
۱۴۸	د کافرون سورة ۰	۳۶
۱۴۹	د نصر سورة ۰	۳۶
۱۵۰	د لهب سورة ۰	۳۷
۱۵۱	د اخلاص سورة ۰	۳۷
۱۵۲	د فلق سورة ۰	۳۷
۱۵۳	د ناس سورة ۰	۳۷
۱۵۴	د معوذتینو (فلق او ناس سورتونه) د نزول سبب ۰	۳۷
۱۵۵	د قرآنکریم ځینی آیتونه او د هغوی ترجمه ۰	۳۸
۱۵۶	د حضرت محمد(ص) څخه ځینی روایت سوی حدیثونه او د هغوی ترجمه ۰	۴۵
۱۵۷	د حدیث شریفونو د ځینی روایت کوونکو پیژندنه ۰	۵۰
۱۵۸	انس بن مالک ۰	۵۰
۱۵۹	عبدالرحمن بن صخرالدوس (ابوهریره) ۰	۵۰
۱۶۰	نواس بن سمعان ۰	۵۰
۱۶۱	عبدالله بن عمرو بن العاص ۰	۵۱
۱۶۲	سفیان ۰	۵۱
۱۶۳	سهل بن سعد ۰	۵۱
۱۶۴	عبدالله بن عمر ۰	۵۱
۱۶۵	عقبه بن ابومسعود ۰	۵۱
۱۶۶	حضرت عایشه بن ابوبکر ۰	۵۱
۱۶۷	ام سلمة ۰	۵۱

و من الله توفیق

دینی بنوونه

عقاید- عقاید د عقیدی جمع ده او عقیده په لغت کی دباور کولو په معنا ده او په اصطلاح کی داسی یو علم دی چی په هغه کی د الله (ج) د ذات او صفاتو او دهغه شی نه چی د الله (ج) په ذات او صفاتو پوری اړه لری د شرعی سره موافق بحث کوی.

تفسیر- تفسیر په لغت کی د کشف، وضاحت او بیان په معنی دی او په اصطلاح کی د نقلولو د قرآن او سنت او یا د ادبی قواعدو په واسطه د لفظ د معنا تعینولو ته ویل کیږی

حدیث- حدیث په لغت کی نوی او جدید ته ویل کیږی او په اصطلاح کی هغه علم ته ویل کیږی چی د حضرت - محمد (ص) د کړنو او ویناؤ او د اصحابو د هغه اعمالو څخه چی د حضرت محمد (ص) په مخ کی یی کړی وی او حضرت محمد (ص) د هغه کار څخه منع نه وی کړی بحث کوی.

- صحابی هغه چاته ویل کیږی چی د اسلام په حالت کی یی د حضرت محمد (ص) سره صحبت کړی وی او دایمان سره د دنیا څخه تللی وی
- تابعی هغه چاته ویل کیږی چی د اسلام په حالت کی یی د صحابی سره صحبت کړی وی او د ایمان سره د دینا څخه تللی وی
- هغه حدیث چی بخاری او مسلم په اتفاق سره د هغه روایت کړی وی متفق علیه بلل کیږی
- حدیث پر دوه ډوله دی
  - **متواتر خبر :** هغه حدیث ته ویل کیږی چی راویان یی زیات وی
    - د راویانو تعداد باید زیات وی او د هغو اتفاق باید د درواغو څخه خالی وی
    - د روایت آخر باید پریو حس ولاړ وی مثلاً ووایی : وامی وریدل
  - **واحد خبر :** هغه حدیث ته ویل کیږی چی راویان یی د تواتر حد ته نه وی رسیدلی یا په بل عبارت چی د تواتر شرطونه نه وی پکښی واحد خبر پر دری ډوله دی
    - هغه حدیث چی راویان یی د دوو نفرو څخه زیات وی مشهور بلل کیږی
    - هغه حدیث چی راویان یی د دوو نفرو څخه کم نه وی عزیز بلل کیږی
    - هغه حدیث چی راوی یی یو نفر وی غریب بلل کیږی

تاویل- تاویل په لغت کښی راجع کولو ته وایی او په اصطلاح کښی دیو لفظ د څو معناؤو څخه د یوی معنا حمل کولو ته تاویل ویل کیږی کیږی.

توحید- توحید په لغت کی عبارت دی د حکم کولو څخه دشی په یو والی او علم لرل دی د هغه په یو والی باندی او په اصطلاح کی د الله (ج) په یو والی باندی په زړه یقین او په هغه باندی په ژبه اقرار کول دی.

دتوحید او صفاتو علم- دشرع شریف احکام په عمومی توګه پر دوو برخو ویشل سوی دی

- اول هغه احکام دی چی په عقایدو پوری اړه لری، مقصد او مرام ترینه یوازی عقیده کول دی او عملی جنبه نه لری
- دوهم هغه احکام دی چی د اعمالو پوری اړه لری او مقصد ترینه د عمل کیفیت دی مثلاً : لمونځ
  - د هرعلم فضیلت د هغه په موضوع پوری اړه لری د توحید د علم موضوع اسلامی عقاید دی کوم چی پر ټولو علومو باندی فضیلت او شرافت لری
  - پر هرچا باندی د بلوغ څخه وروسته د توحید د علم زده کړه فرض ده او که څوک ځند پکښی وکړی نو پس په تحقیق سره د کبیره ګناه مرتکب سو

استعاذه- استعاذه په لغت کی پناه غوښتلو ته وایی او په اصطلاح کښی د «اعوذبالله من الشیطان الرجیم» ویلو ته ویل کیږی یعنی پناه غواړم په الله (ج) د رټل سوی شیطان د شر څخه.

- استعاذه د قرآنکریم د تلاوت په پیل، د لمانځه په داخل او له هغه څخه دباندی سنت ده

تسمیه: تسمیه «بسم الله الرحمن الرحیم» ویلو ته ویل کیږی چی د قرآنکریم د تلاوت دپاره سنت ده.

تهلیل: تهلیل «لااله الاالله محمد رسول الله» ویلو ته ویل کیږی

ایمان او اسلام

- امام اعظم (رح) په فقه اکبر کښی فرمایيلی دی چی ایمان بغیر د اسلام څخه او اسلام بغیر د ایمان څخه نه موجودیږی یعنی یو دبل لازم او ملزوم دی

ایمان- ایمان په لغت کی د تصدیق او باور کولو په معنی دی او په شرع کی عبارت دی د تصدیق او باور کولو څخه په هغه څه باندی چی حضرت محمد (ص) د الله (ج) له طرفه راوړی دی او اقرار کول دی په هغه باندی یعنی د ایمان اطلاق په باطنی انقیاد باندی دی

- د ضرورت او جبر په وخت کښی په ژبه اقرار کول ساقطیږی نو ځکه د ګونګ ایمان بی د ژبی د اقرار څخه هم معتبر دی.

د ایمان قسمونه

ایمان پر دوه ډوله دی : اجمالی ایمان او تفصیلی ایمان

۱- اجمالی ایمان- د ژبی اقرار او د زړه باور کولو ته اجمالی ایمان ویل کیږی

۲- تفصیلی ایمان- د اسلام د ټولو اعمالو او پنځو بناو عملی کولو ته تفصیلی ایمان ویل کیږی

اسلام- اسلام په لغت کی د مطلق انقیاد او غاړه ایښودلو په معنا دی او په شرع کی عبارت دی د انقیاد او غاړه ایښودلو څخه د الله (ج) احکامو ته یعنی د اسلام اطلاق په ظاهری انقیاد باندی دی.

- په اسلام کی عبادتونه پر دوه ډوله دی : ۱- بدنی (لمونځ او نور) ۲- مالی (زکوة او صدقه)

د ایمان او اسلام شرعی حکم

ایمان او اسلام دوه حکمه لری : دنیوی او اخروی

- د ایمان او اسلام دنیوی حکم د مسلمان شخص د وینی او مال حرمت، د هغه د نکاح جواز د مسلمی سره، د هغه د امامت جواز د مسلمانانو دپاره، د الهی اوامرو عملی کول او د هغه د نواحیو څخه اجتناب، د هغه سره د نورو مسلمانانو په ډول معامله کول او داسی نور ...
- د ایمان او اسلام اخروی حکم دجنت دخول او د دورخ څخه عدم خلود دی

صالحه اعمال

صالحه اعمال عبارت دی د هغو نیکو کارونو څخه چی الله تعالی په هغو سره امر کړی وی او رسول الله (ص) خلکو ته د هغو تعلیم ورکړی وی لکه لمونځ، روژه، د قرآنکریم قرائت او نور.

ایمان د عمل څخه غیر او عمل د ایمان څخه غیر دی او دلیل پری دادی چی د بنده څخه په ځینی وختو کی عمل ساقطیږی. لکه : د بنځی څخه د حیض او نفاس په حالت کی لمونځ او روژه او د فقیر څخه زکوة ساقط دی په خلاف د ایمان چی سقوط نه قبلوی.

د اسلام د دین ځینی شعائر (نښی)

د اسلام نښی هغه شیان دی چی د الله (ج) عبادت وربانډی کیږی یا الله (ج) هغه محترم ګرځولی دی لکه قرآنکریم، پیغمبر، بیت الله، صفا او مروه، منی، عرفات، مسجدونه او داسی نور. حضرت شاه ولی الله (رح) په حجة الله البالغه کی لیکلی چی : د اسلام د دین د لویو شعائرو څخه څلور شیان دی : قرآنکریم، پیغمبر، کعبه او لمونځ. هغه شخص د هغوی تعظیم په ځای کوی چی زړه یی د تقوا څخه ډک وی.

د متقیانو صفات- د متقیانو صفات څلور دی : ۱- په غیب باندی ایمان راوړل ۲- په بنه توګه لمونځ کول ۳- ذکوة ورکول ۴- ایمان په هغه څه راوړل چی پر حضرت محمد (ص) نازل سوی دی او پر هغه څه چی له هغه مبارک څخه دمخه نازل سوی دی

تخلیق او تقدیر د الله (ج) له طرفه دی

د اهل السنة و الجامعه په نزد خیر او شر دالله (ج) له طرفه دی او د روافضو په نز د خیر دالله (ج) له طرفه او شر د بنده له طرفه ده

- جبرئیل (ع) او عمر فاروق (رض) به د اهل السنة خبره کوله او میکائیل (ع) او ابوبکر صدیق (رض) به د روافضو په ډول خبره کول
- د جبرئیل (ع) او میکائیل (ع) په مینځ کی فیصله اسرافیل (ع) او د حضرت عمر (رض) او حضرت ابوبکر-صدیق (رض) په مینځ کی فیصله حضرت محمد (ص) وکړه چی فیصله د اهل السنة والجامعه په گټه وه.
- کفر او ایمان، ښه او بد او هر څه د بنده فعل دی او بنده په هغه کی اختیار لری البته په اختیاری طریقه سره نه په زور، جبر او اکراه سره نو ځکه بنده د ښه کار د ثواب او د بد کار د عذاب مستحق گرځی

تقوا او اعتصام په حبل الله (ج)

د تقوا او اعتصام څخه دوه مطلبونه دی : ۱- تقوا او پرهیزگاری ۲- د مسلمانانو په منځ کی اتفاق

د الله (ج) په وجود باندی عقلی دلایل

د الله (ج) وجود ضروری او واجب دی ځکه په عالم کی دوه ډوله موجودات وجود لری
۱- اعیان
۲- اعراض

د اعیانو حدوث- اعیان د عین جمع ده او عین هغه څه ته ویل کیږی چی قایم بالذات وی لکه اجسام چی پر هغوباندی تغیرت راتلای سی او هر هغه شی چی تغیر او تبدیل پکښی راځی نوی پیدا سوی دی.

د اعراضو حدوث- اعراض د عرض جمع ده او عرض هغه څه ته ویل کیږی چی قایم بالغیر وی لکه سپین والی او تور والی چی پر دوی عدم (نیست) امکان لری او هر هغه شی چی عدم پر راتلای سی نوی پیدا سوی دی.

ممکن- ممکن هغه څه ته ویل کیږی چی وجود اوعدم یی برابر وی تر څو چی د ترجیح دیو ددی دواړوموجود نسی

عبادت- عبادت عبارت دی د کامل او انتهائی تذلل (عاجزی) څخه

- ټول عبادتونه پر دری ډوله دی : ۱- هغه چی په زړه پوری اړه له لکه په غیب باندی ایمان لری ۲- هغه چی په بدن پوری اړه لری لکه لمونځ او نور ۳- هغه چی په مال پوری اړه لری لکه زکوة او صدقه

الله (ج) حد او ضد نه لری

الله (ج) حد نه لری : حد په دوو معناوؤ دی

- حد په معنی د تعریف دی په ذکر د ذاتیاتو او اجراءو د هغه سره لکه تعریف د انسان په حیوان ناطق سره او الله (ج) اجزاء نه لری که الله (ج) له اجزاؤ څخه مرکب وای نو حتماً به هغوی ته محتاج وی او حال دا چی الله (ج) له احتیاج څخه پاک او مبری دی نو ځکه د الله (ج) تعریف په اجزاؤ سره نه کیږی
- حد په معنی د نهایت دی او حال داچی الله (ج) نهایت نه لری ځکه چی نهایت د اجسامو د خواصو څخه دی او الله (ج) د هغوی د خواصو او عوارضو څخه پاک او مبری دی

الله (ج) ضد نه لری: که الله (ج) ضد درلودای نو د کائناتو دغه نظم به په دی ترتیب نه پاته کیدای نو وایو چی الله (ج) ضد نه لری

د الله (ج) صفات

د الله (ج) صفات پر دوه ډوله دی : ۱- ذاتی صفتونه ۲- فعلی صفتونه

۱- ذاتی صفتونه- دالله (ج) ذاتی صفتونه هغه صفتونه دی چی د الله (ج) دپاره ثابت دی او الله (ج) د هغه په ضد سره نه موصوفیږی. د الله (ج) ذاتی صفتونه (۷) دی چی عبارت دی له : [حیات، قدرت، علم، کلام، سمع، بصر او ارادی] څخه.

۲- فعلی صفتونه- دالله (ج) فعلی صفتونه هغه صفتونه دی چی دالله (ج) دپاره ثابت دی او د هغه په ضد سره هم الله (ج) موصوفیږی. لکه : احیأ (ژوندی کول) چی د هغه ضد اماتت (مړکول) دی. دالله (ج) بعضی فعلی صفتونه تخلیق (پیداکول که یی مثل وی او که نه وی)، ترزیق (رزق ورکول)، اعزاز (عزت ورکول)، اذلال (ذلت ورکول)، انشاء (پیداکول که یی مثل وی او که نه وی) او ابداء (پیداکول چی مثل یی نه وی) دی

دالله (ج) صفات نه عین ذات او نه غیرذات دی

که د الله (ج) صفات عین ذات وی نو لاندی نواقص لازمیږی

- صفات (د حیات، قدرت، علم، ...) یو کیږی
- صفت ذات کیږی او د خلک لپاره معبود ګرځی
- د الله (ج) ذات قایم بالذات نه ګرځی

او پورتنی نواقص محال او ناممکن دی نو معلومه سوه چی د الله (ج) صفات نه عین ذات دی او نه غیر ذات.

دالله (ج) کلام د موسی (ع) سره

الله (ج) چی موسی (ع) ته څه ویلی دی هغه قدیم دی مګر د موسی (ع) سره یی تعلق حادث دی.

- تورات پس له (۴۰) ورځو روژی نیولو څخه د طور په غره کی پر موسی (ع) نازل سویدی

د الله (ج) کتابونه

پر هرمکلف باندی لازم دی چی ایمان ولری چی ټول آسمانی کتابونه او د هغو مطالب حق دی

آسمانی کتابونه

- تورات ←——— پر حضرت موسی (ع)
- زبور ←——— پر حضرت داؤد (ع)
- انجیل ←——— پر حضرت عیسی (ع)
- قرآنکریم ←——— پر حضرت محمد (ص)

سل صحیفی

- لس صحیفی ←——— پرآدم (ع)
- پنځوس صحیفی ←——— پر شیث (ع)
- دیرش صحیفی ←——— پر ادریس (ع)
- لس صحیفی ←——— پر ابراهیم (ع)

o ایمان او باور لرل د الله (ج) پر ټولو کتابو او صحیفو باندی بی له کوم فرق څخه ضروری او لازمی دی.

قرآنکریم د الله (ج) کلام دی

د قرآنکریم ابتدایی نزول د قدر په شپه سویدی چی د جبرائیل (ع) په واسطه پر حضرت محمد (ص) باندی نازل سوی دی. قرآنکریم په مصاحفو کی لیکل سوی، په زړونو کی حفظ سوی او په ژبو لوستل سوی او بی له شک څخه د تواتُر په طریقه مونږ ته رسیدلی دی. قرآنکریم د (۲۳) کالو په موده کی لږ لږ د مځکی د آسمان څخه نازل سویدی

دالله (ج) کلام پر دوه ډوله دی : ۱- نفسی کلام ۲- لفظی کلام

۱- نفسی کلام- نفسی کلام د الله (ج) کلام دی چی د هغه قدیم صفت او بغیر د حرف او صوت څخه دی.

۲- لفظی کلام- لفظی کلام هغه کلام دی چی پر رسولانو باندی نازل سوی دی او د حرف او صوت لرونکی دی.

- لفظی منزل کتاب په هغه قدیم کلام باندی دلالت کوی کوم چی د الله (ج) نفسی کلام دی.
- نفسی کلام قدیم او غیر مخلوق دی او لفظی کلام چی مونږ هغه په مصحف کی لولو مخلوق دی مګر د ادب له مخی لفظی کلام ته باید مخلوق ونه ویل سی مګر د تعلیم په وخت کی د آسمانی کتابونو ټول تلاوت او اکثر احکام د قرآنکریم په نزول سره منسوخ سوی دی.

معجزه

معجزه هغه خارق العاده (دعادت خلاف) امر دی چی د نبوت له مدعی نه ظاهریږی. لکه : د موسی (ع) دلکړی په لیدلو سره د فرعون جادوګرانو ایمان راوړ او ویی ویل : «امنا برب هرون و موسی» ترجمه : «ایمان مو راوړی دی په رب د هارون او موسی» او یا هم لکه : د عیسی (ع) معجزی چی مړی به یی د الله (ج) په حکم ژوندی کول، د مور زیږیدلی ړوند اعلاج به یی کاوه او د ختو څخه به یی مرغان جوړول

قرآنکریم د حضرت محمد(ص) معجزه ده

- قرآنکریم به د قیامت تر روځی پوری پاته سی
- هیڅ څوک د قرآنکریم د یو سورت په ډول د یو شی پر جوړولو نسی قادر کیدلی

د قرآنکریم فضیلتونه

- الله (ج) د قرآنکریم ساتنه د قیامت تر ورځی پوری خپله کوی.
- د قرآنکریم تلاوت ثواب لری لکه چی په احادیثو کی ذکر سوی دی.
- هیڅوک نسی کولی چی د قرآنکریم د سورتو په ډول یو سورت راوړی
- دقرآنکریم په نزول سره د نورو آسمانی کتابو تلاوت او بعضی احکام منسوخ سوی دی
- مخکی آسمانی کتابونه په یو ځل او قرآنکریم په (۲۳) کالو کی لږ لږ نازل سوی دی
- بی شمیره مسلمانانو قرآنکریم حفظ کړی دی او د حضرت محمد (ص) د عصر څخه تر نن پوری په متواتر ډول رسیدلی دی او ترقیامته پوری به دغه لړی دوام ولری
- قرآنکریم د ټول بشر دپاره نازل سوی دی چی د قیامت تر ورځی پوری به باقی وی

دقرآنکریم راټولول او ساتنه

د قرآنکریم راټولول او ساتنه په دوو طریقو سره سوی ده :

- د قرآنکریم حفظ کول
- د قرآنکریم لیکل چی حضرت محمد (ص) څلور کسان [زید بن ثابت، آبی بن کعب، معاذ بن جبل او معاویه بن ابوسفیان] مامور کړی وه ترڅو قرآنکریم ولیکی او هغوی به قرآنکیم پر ډبرو، پوستکو او لرګیو لیکه.
  - په اول کی قرآنکریم حرکات [زور، زیر او نور] نه درلودل او داکارد عبدلملک بن مروان په زمانه کی وسو چی د اموی خلیفه ګانو د جملی څخه دی.

د قرآنکریم د اخستلو آدب

قرآنکریم باید په اودس سره واخستل سی، دپاسه پښی پر وانه ړو، دځانه څخه یی کښته نه ږدو، نور کتابونه د هغه دپاسه کښی نه ږدو او همدارنګه نور دینی کتابونه لکه تفسیر، حدیث او نور بی اودسه وانه خستل سی.

د قرآنکریم د تلاوت آدب

قرآنکریم باید په پاک ځای او په ترتیل [تجوید او له چابک بغیر ویل] سره وویل سی او په هغه ځای کی چی خلک غوږ نه ورته نیسی باید کرار وویل سی چی غوږ نه نیوونکی هم ګنهګار نسی.

د قرآنکریم علوم

د قرآنکریم علوم دری برخی دی

- توحید
- احکام
- قصص

مکی او مدینی سورتونه

هغه سورتونه چی پر حضرت محمد (ص) د هجرت څخه دمخه نازل سوی دی مکی او هغه چی د هجرت څخه وروسته نازل سوی دی مدینی سورتونه بلل کیږی

- سورة د قرآنکریم یوه برخه ده ی اول او آخر لری
- آیت د قرآنکریم د کلماتو یوه برخه ده چی د فاصلی په واسطه سره جلاکیږی
  - فاصله د آیت آخرنی علامی ته ویل کیږی

د حضرت محمد (ص) رسالت او د قرآنکریم نزول

حضرت محمد (ص) په څلویښت کلنی کی په پیغمبری مبعوث سوی دی چی تفصیل یی په دی ډول دی :
قرآنکریم د قدر په شپه چی د علماءو په نزد د روژی ۱۲، ۱۷ او ۲۲ ده د لوح محفوظ څخه په یوا وار د مځکی آسمان ته رانازل سوی دی او بیا وروسته لږ لږ د ضرورت په اندازه د (۲۳) کالو په موده کی مځکی ته رانازل سوی دی. حضرت محمد (ص) د حراء په غار کی د الله (ج) په عبادت مشغول وؤ چی جبرئیل(ع) هغه ته وحی

راوړی او ده مبارک ته یی وویل «اقراء» نو ده مبارک وفرمایل «انا مابقاری»، جبرییل (ع) یوا وار په غیر کی ټینګ کړ او ورته یی وویل چی «اقراء» حضرت محمد (ص) وفرماییل زه لوستی نسم نو جبرییل (ع) هغه مبارک دوه واری په غیر کی ټینګ کړ او ورته یی وویل «ووایه» نو هغه مبارک وفرماییل زه لوستی نسم په دریم واری یی په غیر کی ټینګ کړ او د علق د سوری اول پنځه آیتونه یی پر نازل کړل حضرت محمد (ص) چی کورته راغی نو د لړزیدو په حال کی یی بی بی خدیجی ته وویل چی ما وپیچه، ماوپیچه نو هغه مبارکی وپیچه ترڅو چی خوب یوړ د خوب څخه د راپاڅیدو وروسته یی خپل د اکا زوی ورقه بن نوفل ته یووړ نو هغه د بعثت زیری پر وکړ.

د حضرت محمد (ص) معراج

معراج د عروج څخه اخستل سوی دی چی د صعود (پورته تلل) په معنی دی ، د علماءو په اصطلاح کښی هغه سفر چی د مکی معظمی څخه د بیت المقدس تر اقصا مسجد پوری (اسراء) او د هغه ځای څخه تر سدرة المنتهی پوری د معراج معنی لری او معراج د صعود آلی ته هم وایی. په یو روایت کی راغلی چی حضرت محمد (ص) پر صخری باندی پورته سو او هلته ځینه ورته ایښودل سوی وه مګر په مشهورو روایتو کی راغلی دی چی د حضرت محمد (ص) معراج دبراق په واسطه سره وو. د معراج احادیث تقریباً د (۳۰) صحابه کرامو څخه نقل سوی دی. اکثره علماء په دی عقیده دی چی د معراج واقعه د بعثت په (۱۲) کال واقع سوی ده مګر چی کومه میاشت وه اختلاف نظر پکښی دی، ځینی ربیع الاول، ځینی ربیع الاخر یا رمضان او ځینی یی شوال بولی مګر مشهور روایت د رجب د میاشتی په (۲۷) متحقق دی.اسراء د قرآنکریم په آیت سره ثابت سوی دی او منکر یی کافر دی او باقی سفر په مشهورو احادیثو سره ثابت دی او منکر یی ګمراه او مبتدع دی

- امام اعظم (رح) په فقه اکبر کښی فرمایلی دی چی : دمعراج خبر حق دی او هر څوک چی هغه رد کړی هغه مبتدع او ګمراه دی
- شیخ اکبر قدس ویلی دی چی معراج (۳۴) ځلی سوی دی یو وار د حضرت محمد (ص) په مبارک جسد سره او متباقی یی په روح سره
- شیخ عبدالحق دهلوی د حضرت محمد (ص) د معراج په باره کی داسی وایی : د اسراء او معراج واقعه یو وار په ویښه کښی د مسجد حرام څخه تر اقصا مسجد پوری او هغه ځایه تر آسمانه او د آسمان څخه د الله (ج) د ارادی تر ځایه پوری تحقیق موندلی

د حضرت محمد (ص) حقوق

پر حضرت محمد (ص) باندی ایمان راوړل، تر هر چا هغه ته ترجیح ورکول، تر هرچا د هغه مبارک سره مینه کول او تر د هرچا تر رضایت د حضرت محمد (ص) درضایت لټول د حضرت محمد (ص) حقوق دی

د حضرت محمد (ص) اولاد

د حضرت محمد (ص) (۷) اولادونه وه چی دری یی زامن او څلور یی لونی وی.

- زامن : قاسم، طاهر او ابراهیم
- لونی : فاطمه الزهرا، رقیه، زینب او ام کلثوم

حضرت ابراهیم د ماریی قبطیی له بطن څخه وؤ او نور ټول د بی بی خدیجی څخه وه. د حضرت محمد (ص) ټول زامن په کوچنیوالی کی وفات سوی دی او د حضرت محمد (ص) لونی د بی بی فاطمی څخه بغیر چی د حضرت - محمد (ص) د رحلت څخه شپږ میاشتی وروسته وفات سوی ده نوری ټولی د ازدواج څخه وروسته د حضرت محمد (ص) په ژوند کی وفات سوی دی

د انبیاء (ع) عصمت

ټول انبیاء د نبوت څخه دمخه او وروسته د کبیره او صغیره ګناه څخه پاک دی

- شیخ ابومنصور ماتریدی ویلی دی چی : انبیاء (ع) د ملائکوپه پرتله په عصمت کښی ډیرر لائق او ښه وړ دی ځکه چی اُمتونه د پیغمبرانو (ع) په متابعت سره مامور دی نه د ملائکو
- قاضی عیاض ویلی دی چی : د نبوت څخه دمخه د انبیاؤ په عصمت کښی اختلاف سته مګر صحیح دادی چی دوی انشاء الله له هر عیب څخه پاک دی
- په نبراس کښی د علماؤ د نظریاتو خلاصه په ډول ذکر سوی ده : کله چی پیغمبر له هغه عمل څخه چی خپله یی کړی وی نهی وکړی نو بی شکه د خلکو د طعن مورد ګرځی او هم د عامو خلکو لپاره د عذر دلیل پیداکیږی

- ځینو علماؤ د پیغبرانو څخه د صغیره ګناهونو صادریدل په سهوه کښی جائز ګڼلی
- صحیح قول د ابوحنیفه (رح) دی چی ویلی یی دی : انبیاء (ع) ټول له صغائرو، کبائرو، کفر او قبائحو څخه پاک او منزه دی مګر له دوی څخه ځینی زلات (بنوئیدنی) او خطاګانی سوی دی

د حضرت عثمان بن عفان (رض) فضیلت

نوم یی عثمان، لقب یی ذوالنورین او اصلی نوم یی ابوعبدالله دی. په پنځم نیکه کی د حضرت محمد (ص) سره یوځای کیږی. د فیل د کال څخه شپږ کاله وروسته زیدلی دی او د ابوبکر صدیق (رض) په لارښوونه مسلمان سوی دی. د ابوبکر، علی او زید څخه وروسته پر ټولو مسلمانانو سبقت لری او هم د ابوبکر او عمر څخه وروسته بهترین د مسمانانو، د حضرت محمد (ص) خلیفه او د هجرتینو خاوند دی. ذوالنورین ځکه ورته وایی ځکه چی حضرت محمد (ص) خپلی دوی لونی (بی بی رقیه او ام کلثوم) یو په بل پسی په نکاح ورکړی دی. او د بی بی رقیی سره یی حبشی ته هجرت کړی دی. حضرت محمد (ص) وفرمائیل : عثمان (رض) اولین شخص دی چی د ابراهیم او لوط (ع) وروسته یی د خپل کورنی سره هجرت کړی دی. حضرت عثمان (رض) د عشره مبشره او د وحی د کاتبانو څخه دی. هغه آیتونه چی د صحابه کرامو په فضایلو مشتمل دی په ټولو کښی حضرت عثمان (رض) شامل دی. نوموړی سپین پوستکی، د ښایست خاوند او غښتلی سړی وؤ. د سر ویښتیان یی ډیر او لویه ږیره یی درلوده چی هغه ته به یی ژړ خضاب ورکاوه. هغه د اسلام څخه دمخه هم په قریشو کی غیور او ډیر سخی وؤ.

- د حضرت طلحه بن عبدالله (رض) څخه روایت دی چی حضرت محمد (ص) وفرمائیل : دهر پیغمبر لپاره ملګری وی او زما ملګری په جنت کښی عثمان (رض) دی
- د حضرت عبدالرحمن بن سمره څخه روایت دی چی یوه ورځ حضرت عثمان (رض)، حضرت محمد (ص) ته یو زر دیناره په خپل لستونی راوړه او د هغه مبارک په لمن کی یی توی کړه، ما حضرت محمد (ص) ولید چی دینارونه یی په خپل لمن کی اړول را اړول او دوه واره یی وویل : عثمان (رض) ته وروسته له نن څخه هغه څه چی دی عمل کوی ضرر نه رسوی.

دحضرت علی بن ابی طالب (رض) فضیلت

نوم یی علی، القاب یی اسدالله، حیدر کرار او مرتضی او اصلی نوم یی ابوالحسن او ابوتراب دی. د ابوطالب (د حضرت محمد (ص) اکا) زوی او د فاطمة الزهراء میړه دی. له ماشومانو لومړی شخص دی چی مسلمان سوی دی. د جګوالی څخه ټیټوالی ته مایل وؤ، چاغ، غټی سترګی، لویه ګیډه او پلنه ږیر ه یی درلوده. څرنګه چی به ده و میدان ته په تکرار سره وردانګل نو ځکه یی لقب ورته حیدر کرار کړ.

- د ټولو اصحابو د ښو ویلو څخه د دوی د ښو ویلو په باره کی زیات روایتونه راغلی دی ځکه چی دده سره خلک مخالف سول نو د حضرت ابوبکر، عمر او عثمان (رض) د وخت زیاتو اصحابو ددی دپاره چی د خلکو نظریات رد کړی نو یی ددوی مناقب او فضایل خلکو ته بیانول تر څو خلک خبر سی
- د حضرت سعد بن ابی وقاص څخه روایت دی چی : حضرت محمد (ص)، حضرت علی (رض) ته وفرمائیل : ته وماته داسی یی لکه هارون چی و موسی (ع) ته وؤ فرق دادی چی زما څخه وروسته پیغمبر نسته.

له مرګ څخه وروسته ژوندی کیدل

مونږ عقیده او ایمان لرو چی ژوندی کیدل پس له مرګ نه حق دی. د اسرافیل (ع) په یوه شپیلی به ټول موجودات مړه او په دوهمه شپیلی به لځ راولاړ سی، د هرانسان سره به دوی ملائکی وی چی یوه ملائکه به یی د حشر میدان ته کشوی او د بلی ملائکی په لاس کی به یی عملنامه وی. هرځوک به د خپلو ګناهونو په اندازه په ګناهونو کی ډوب وی. په دغه ورځ به انبیاء (ع) هم په خپل غم اخته وی او نفسی نفسی به وایی مګر حضرت محمد (ص) به په دغه ورځ هم امتی امتی وایی او خپل د اُمت شفاعت به کوی. د مؤمن عملنامه به په راسته لاس او د کافر عملنامه به په چپه لاس کی ورکړل سی. کافران به د همیشه دپاره په دورخ او مؤمنا به د همیشه دپاره په جنت کی واچول سی مګر ګناهګار مؤمن به د خدای (ج) په فضل او د انبیاءُ او صالیحینو په شفاعت سره ابتداً او یا هم د دورخ د راوتلو وروسته جنت ته داخل سی

د عملنامی قرائت (لوستل)

د حساب په ورځ به مؤمن ته عملنامه په راسته لاس اوکافر ته به په چپه لاس کی ورکول کیږی او هر سړی به خپل عملنامه وایی.

یمین

یمین په لغت کی مطلق قصد ته وایی او په شریعت کی هغه قصد ته وایی چی د پاک الله (ج) د نامه سره یو ځای د یوه کار د کولو او یا نه کولو په حقله سرته رسیږی

د یمین ډولونه- یمین پر دری ډوله دی : ۱- غموسن یمین ۲- منعقده یمین ۳- لغوه یمین

۱- غموسن یمین- هغه قسم ته وایی چی دتیری سوی زمانی په یو کار باندی قصداً په درواغو قسم وکړل سی. ددغه قسم اخستونکی ته به په جهنم کی غوتی ورکول کیږی.

- غموسن یمین ته ځکه غموسن وایی ځکه چی غمس د غوتی په معنی دی او د دی قسم اخستونکی ته به الله (ج) په جهنم کی غوتی ورکوی

دغموسن یمین حکم- دغموسن یمین دپاره کفاره نسته مګر که څوک توبه وباسی نو کیدای سی چی الله (ج) یی وبخښی

۲- منعقده یمین- هغه قسم ته وایی چی په راتلونکی کی دیوکار په کولو یا نه کولو باندی وسی نو که ددغه قسم په خلاف عمل وسی حانث او ګنهګار شمیرل کیږی

- په منعقده قسم کی فرق نه کوی چی قسم په قصد وی او که په توکو.

د منعقده یمین حکم- د منعقده یمین د جبران دپاره کفاره لازمه ده.

۳- لغوه یمین- هغه قسم ته وایی چی یوشخص یی خپل د علم له مخی واخلی حال داچی حقیقت به بل شی وی نو داسړی خپل د علم له مخی ریښتنی مګر ظاهراً درواغجن دی.

- د لغوه قسم اخستونکی دپاره اُمید سته چی الله (ج) به یی په دی قسم ونه نیسی.
- که څوک د بد عمل د اجراء او یا د ښه کار نه د کولو قسم وکړی نو ښه خبره داه چی ځان حانث کړی، د بدعمل د کولو نه دی ځان وژغوری او کفاره دی ورکړی او یا هم ښه کار دی وکړی او کفاره دی ورکړی

د قسم حروف- دقسم حرفونه دری دی : ۱- واو ۲- باء ۳- تاء

د قسم اخستلو په وخت کی باید قسم اخستونکی د دغه دری حرفو څخه یو حرف د الله (ج) په نو یا صفت کی داخل کړی . لکه : والله، بالله، تالله. دا دری قسمونه په قرآنکریم کی ذکر سوی دی.

- قسم چی په هره ژبه وی فرق نه کوی

دقسم کفاره

- غلام آزادول
- لسو کسانو ته داسی جامی ورکول چی اقلاً لمونځ ادا کول پکښی جواز ولری
- لسو کسانو ته دوه وخته ډوډی ورکول
  - که حانث د دغه درو شیانو څخه د یوه توان هم ونه لری نو دری ورځی پرله پسی روژی نیول هم دقسم کفاره کیدای سی

دمعصیت بیان

معصیت په لغت کی د نافرمانی کولو په معنی دی او په اصطلاح کی هغه عمل ته ویل کیږی چی په هغه کښی د الله (ج) او د رسول الله (ص) نافرمانی وی. معصیت او ګناه کول بنده د الله (ج) د رحمت څخه لیری کوی او د الله (ج) د قهر او غضب سبب ګرځی. په ګناهونو کی ډیره لویه ګناه کفر او شرک دی چی بی له توبی او ایمان راوړلو څخه نه بخښل کیږی

کبائر

کبائر د کبیری جمع او کبیره د لویی ګناه په معنی ده او په اصطلاح کښی عبارت ده ه هغی ګناه څخه چی په هغه باندی په شرع کښی حد تعین سوی وی او یا د هغه په باره کی وعید راغلی وی او یا له هغه څخه په قطعی ډول سره نهی سوی وی

- ځینی علماء وایی چی هر ګناه د خپل مافوق په نسبت صغیره او د ماتحت په نسبت کبیره ده
- حضرت عمر (رض) او عبدالله بن عباس فرماییلی دی :

کبیره ګناه د استغفار او صغیره د اصرار سره نسی محقق کیدای: یعنی کبیره ګناه په استغفار سره صغیره ګرځی او یا په کلی توګه سره محو کیږی او صغیره ګناه چی اصرار پر وسی کبیره ګرځی

د کبیره ګناهونو شمیر

د حضرت عبدالله بن عمر په روایت د کبیره ګناهونو شمیر (۹) دی

۱- د الله (ج) سره شریک نیول
۲- په ناحقه سره د نفس وژل
۳- پاک لمنی بڼځی ته د زنا نسبت کول
۴- زنا
۵- د کافرانو په مقابله کښی له جنګ څخه تښتیدل
۶- سحر او جادو کول
۷- د یتیم د مال خوړل
۸- خپل مسلمان مور او پلار په ناحقه سره ځوروول
۹- الحاد (ګناه کول) په حرم کښی

- حضرت ابوهریرة (رض) د حضرت محمد (ص) څخه په خپل رویات کښی سود خوړل او حضرت علی (رض) غلاکول او د شرابو څښل هم زیات کړی دی.
- هرهغه څه چی فساد یی د ذکر سوو اعمالو د یوه عمل د فساد سره برابر او یا له هغه څخه زیات وی کبیره ده
  - چی فساد یی د یاد سوو اعمالو د فساد په اندازه وی. لکه : لواطت چی فساد یی د زنا په ډول، غصب د ربا په ډول، د استاد حقوق چی د والدینو د حقوق په ډول، د شراب نه بغیر د بل ډول نشه کوونکو شیانو استعمالول چی ضرر یی د شرابو په ډول دی
  - چی فساد یی د یادوو سوو اعمالو د فساد څخه زیات وی. لکه : د لاری نیول او د خلکو شکول چی فساد یی د سرقی څخه زیات دی

په مرقات کښی ذکر سوی چی ګناه پر څلور ډوله ده

- هغه ګناه چی بغیر د توبی څخه نه بخښل کیږی چی هغه کفر دی
- هغه ګناه چی په استغفار او د نورو حسناتو په اجراء کولو سره یی د بخښلو اُمید ستە لکه صغائر
- هغه چی د الله (ج) په ارادی پوری اړه لری چی په توبی او یا بغیر د توبی څخه یی بخښی او دا هغه کبائر دی چی د الله (ج) له حقوقو څخه ګڼل کیږی
- هغه چی په ردولو سره ساقطیږی چی هغه د بنده له حقوقو څخه عبارت دی

تلفین : په دین کی د اسانه احکامو عملی کولو او د سختو احکامو پریښولو ته د اصول په علم کی تلفین ویل کیږی

تقلید

تقلید په لغت کښی په غاړه کښی د قلادی او غاړه کئ اچولو ته وایی او مجازاً په معنی د تسلیم، غاړه ایښودلو او بی له درک د حقیقت څخه د چا پیروی کول دی

- هر څوک چی مجتهد نه وی پر هغه د مجتهد د نظر پیروی کول واجب دی

دتقلید ډولونه : تقلید پر دوه ډوله دی : ۱- حق تقلید ۲- باطل تقلید

حق تقلید : حق تقلید په شرعی امورو کښی د چاپیروی کولو ته وایی لکه د څلورو امامانو تقلید چی واجب دی

- دمخه صالحو سلفو د تقلید اختصاص په یو مجتهد پوری نه وؤ ترڅو مګر کله چی په خلکو کی سرکښی او تلفین کوونکی راپیداسول نو ځکه علماء کرامو فیصله وکړه چی باید د یوه مجتهد تقلید وسی نو څرنګه چی بغیر د څلورو کسانو څخه (ابوحنیفه، مالک، شافعی او احمد بن حنبل) نور څوک نه وه نو ځکه فیصله پر دوی ووتله او ویی ویل چی نور علماء باید د یو د دوی څخه متابعت وکړی. د سبکی قول دی : په تحقیق سره مخالفت کوونکی د څلورو مذاهبو څخه لکه مخالفت کوونکی دی له اجماع څخه

باطل تقلید : باطل تقلید عبارت دی د په حرام او ناروا شیانو کی د یوچا پیرو کولو څخه

د مقلد رجوع له مذهب څخه وروسته له عمل نه

د مقلد رجوع له مذهب څخه وروسته د عمل نه ناجائز او په اتفاق د علماؤ سره باطل دی، کوم کسان چی هغه روا ګڼی د اعتبار وړ نه دی.

نکاح

نکاح په لغت کی ضم (یوځای کولو) ته وایی او په شریعت کښی نکاح عبارت ده له هغه عقد څخه چی واردیږی په ملک متعه (خاصه فائده) باندی په قصدی توګه سره.

د نکاح ارکان : د نکاح ارکان ایجاب او قبول دی

ایجاب- د عقد کوونکو اول قول ته ایجاب وایی د هرشخص له جانبه چی وی (د نر اویا ښځی). اول قول ته ځکه ایجاب وایی چی په مقابل باندی په منلو اویا رد سره جواب واجبوی

قبول- دوهم قول ته د هرعقد کوونکی له خوا چی واقع سی قبول وایی. ځکه چی دوهم قول په حقیقت کی د قبول جواب دی، که د رد په طریقه وی او که د قبول

- په هر عقد کښی باید د ایجاب اوقبول الفاظ په ماضی الفاظو سره وی مګر د نکاح په عقد کښی که یو قول په ماضی الفاظو سره وی او یو قول په ماضی الفاظو سره نه وی هم پروا نه کوی
- د نکاح عقد د شاهدانو بغیر صحت نه پیداکوی. شاهدان باید د دوو نارینه ؤ یا یو نارینه او دوو ښځینه ؤ څخه کم نه وی

په نکاح کښی د ولی صلاحیت : ولی هغه چا ته ویل کیږی چی شرعاً دیوه شخص په قانونی چاروکښی د تصرف حق ولری. په نکاح کښی د ولایت لومړی حق د هغه شخص دی چی په میراث کښی لومړی حقدار وی. که اصیله، عاقله او بالغه ښځه په خپله خوښه پرته د ولی د حضور څخه نکاح وکړی عقد صحیح دی ځکه چی دی ښځی پر خپل حق تصرف کړی دی. ولی ته روا نه ده چی عاقله او بالغه ښځه په زور په نکاح ورکړی اجازه به ځینی اخلی. که یو څوک د پیغلی ښځی څخه د نکاح اجازه وغواړی او هغه په مقابل کښی وخاندی، یا چپ پاته سی نو دا د اجازی معنی لری او هم هغه ژړا چی د شور او غوغا سره نه هم د اجازی معنی لری. د نکاح د اجازی د غوښتلو په وخت هغه سړی د کوم سره چی یی نکاح کیږی په پوره ډول ور معرفی سی. د نکاح د اجازی په وخت کی د مهر ذکر کول مهم نه دی ځکه نکاح د مهر د تعین څخه بغیر هم صحت پیداکوی. د کونډی ښځی لپاره خندا، سکوت او یا ژړا اجازه نه ګڼل کیږی باید هغه یی صراحتاً رد یا قبول کړی.

که ولی کومه کوچنی انجلی چاته په نکاح ورکړی د لاندی تفصیل په نظر کی نیولو سره نکاح صحیح ده

- که ولی داسی پلار یا نیکه وی چی په فسق او فساد مشهور نه وی نو نکاح صحیح ده او انجلی ته د بلوغ خیار هم نسته
- که ولی بغیر د پلار یا نیکه وی نو انجلی ته د بلوغ خیار سته
  - کومی انجلی ته چی د بلوغ خیار وی او خپل په نکاح خبره وی او بلوغ ته د رسیدو سره سم چپ پاته سی نو د بلوغ خیار یی باطلیږی

✓ که کومی ښځی دبلوغ د خیار په واسطه دخپل میړه څخه ځان خلاص کړ نو دی ته طلاق نه ویل کیږی ځکه چی داخلاصون د ښځی له خوا متحقق سوی دی او طلاق د نارینه حق دی

✓ که ښځی عصبه ورثه نه درلودل نور خپلوان هم کولای سی هغه ولایتاً په نکاح ورکړی

مهر : مهر په لغت کښی هغه پیړی ته ویل کیږی چی د اوښ په پزه کی اچول سوی وی او د فقهاؤ په اصطلاح مهر هغه مال ته ویل کیږی چی د نکاح د عقد په موجب دښځی لپاره پر میړه باندی لازمیږی

- د نکاح په عقد کښی که مهر تعین نسی او یا هم نفی سی نکاح بیا هم صحیح ده مګر په دی حالت کی مهر مثل لازمیږی که څه هم وروسته مهر د ښځی حق ګرځی مګر په اول کښی شرعی حق دی

دمهر لږ اندازه- دمهرلږ اندازه لس شرعی روپی دی چی وزن یی اوه (۷) مثقاله سپین زر وی. حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : د لسو روپیو څخه کم مهر نسته

دمهر زیاته اندازه- د مهر زیاته اندازه په شریعت کښی تعین سوی نه دی دا په ښځی او میړه پوری اړه لری چی څومره تعینوی.

- هیڅوک نسی کولی چی د ښځی په مهر کښی بغیر د اجازی څخه لاس وهنه وکړی که یی وکړی نو دا د هغی ښځی په حق کی ظلم دی
- ښځه کولی سی چی د مهر د اخستلو څخه دمخه ځان د میړه څخه لری وساتی او هم له هغه سره سفر و نه کړی مګر داپه هغه صورت کښی چی د مهر ورکول معجل ټاکل سوی وی او که د مهر ورکول نسیه ټاکل سوی وی نو دا حق نه لری

مهر مثل : مهر مثل عبارت دی له هغه مهر څخه چی د ښځی د کومی مماثلی خپلوانی په اندازه وی. کله چی د نکاح په عقد کښی د مهر اندازه ونه ټاکل سی نو بیا د ښځی دپاره پر میړه باندی لازمیږی. مهر مثل په وخت کښی لازمیږی چی د نکاح په عقد کښی یا اصلاً مهر نه وی ټاکل سوی او یا داچی نفی سوی وی

- د مهر مثل د ټاکلو د پاره لومړی باید په پلارنی ټبر کی، وروسته تر هغه په مورنی ټبر کی او په داغه ترتیب سره وکتل سی او داسی ښځه پیداسی چی د منکوحی سره په خوی، دیانت، ښایست او ټولو اوصافو کښی یودول وی کله چی داسی ښځه پیداسوه نو د هغه مهر چی هرځومره وؤ نو د منکوحی مهر به هم هغومره وی

دمهر لزوم : مهر کیدای سی چی پوره یا نیمائی لازم سی

د پوره مهر لزوم- پوره مهر هغه وخت لازمیږی چی د ښځی سره د میړه نږدیوالی او یا خلوت صحیحه سوی وی. **خلوت صحیه :** په یوه محل کښی د ښځی او میړه هغه یوځای کیدو ته وایی چی هلته د قربت د جماع، کومه شرعی مانع وجود ونه لری

د نیمائی مهر لزوم- نیمایی مهر هغه وخت لازمیږی چی د ښځی لپاره مهر تعین سوی وی مگر منکوحه له قربت او یا خلوت صحیحه څخه دمخه طلاقه او یا ئی میړه مړ سوی وی.

قَسم : هر څوک چی دوی یا زیاتی منکوحی ښځی ولری نو پر سړی دالازمه ده چی د هغوی په ټولو حقوقو کښی خپل د قدرت په اندازه عدالت وکړی چی د زړه مینه د دی امر څخه مستثنا ده.

- پیغلی، کونډی، زړی او نوی ښځی په ټولو حقوقو کښی یودول دی لکه چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : څوک چی دوی ښځی لری او د حقوقو په تقسیم کښی یوی ته میلان کوی، د قیامت په ورځ به په داسی حال چی یو طرف ئی کوږ وی د حشر میدان ته راځی.
- د سفر دپاره میړه اختیار لری چی د خپلی خوښی سره سم میرمن د ځان سره سفر ته بوزی که څه هم چی د دوی ترمنځ قرعه اچول ښه خبره ده

د ښځی نفقه : د ښځی نفقه، لباس او مسکن هغه وخت پر میړه باندی لازمیږی چی ښځی ځان میړه ته تسلیم او په ژواندنه کښی د هغه سره یوځای سی

- نفقه هغه وخت پر میړه لازمیږی چی ښځه ځان میړه ته تسلیم کړی مگر که ښځه بیشرمه وی نو د نفقی حق نه لری
- که میړه دنیاداره وی نو د خدمتګار نفقه هم پر لازمیږی
- که طلاقه سوی ښځه په عدت کښی وی، د عدت د مودی نفقه هم پر میړه باندی لازمیږی مگر که عدت یی د میړه د وفات له کبله وی نفقه ساقطیږی
- د ناداره پلار، مور، نیکه او انا نفقه د هغوی پر اولادونو باندی لازمه ده

د نفقی کیفیت : که ښځه او میړه دواړه مالداره وی نو د مالداری، که دواړه غریبان وی نو د غریبانو نفقه او که میړه مالدار او ښځه غریبه وی نو متوسطه نفقه پر لازمیږی

د نکاح فضایل : واده او نکاح کول د بشر د ژواندانه د مهمو ارکانو څخه دی. واده کول برسیره پردی چی د انسان د عفت، خوشحالئ او ښه ژوند سبب ګرځی، د اولاد دپیدایښت وسیله او د نسل د بقا سبب هم دی او نیک او صالح اولاد د الله (ج) د لویو نعمتونو څخه شمیرل کیږی

- حضرت محمد (ص)، حضرت علی (رض) ته وفرمائیل : ای علی : په دروو کارونو کښی ځنډ مه کوه
  - په فرض لمانځه کښی چی وخت یی راسی
  - د جنازی لمونځ کله چی جنازه حاضره سی
  - کونډه ښځه چی سیال یی پیداسی
- حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : درې تنه دی چی ددوی د کومک ذمه وار الله (ج) دی
  - هغه مجاهد چی د الله (ج) په لاره کښی جهاد کوی
  - هغه واده کوونکی چی د عفت په مقصد واده کوی
  - مکاتب (هغه غلام چی په زړه کښی کتابت اداء کړی)

▪ کتابت د مولا او غلام په منځ کښی عقد دی جی غلام د هغه په مقتضا سره یو اندازه روپی خپل بادار ته ورکوی او ځان آزادوی چی دغه ډول غلام ته مکاتب وایی

د نکاح په اړه ځینی احکام

- که څوک د اصیلی ښځی د نکاح توان ولری نو هغه ته جواز نسته چی د مینځی سره نکاح وکړی مگر که

یی توان ونه لری نو جواز ورته سته. د امام شافعی (رح) او نورو په نزد مینځه باید مسلمانه وی مګر د ابوحنیفه (رح) په نزد که مینځه کتابی وی هم جواز سته

- د اهل کتابو ښځو (یهود او نصارا) سره هم نکاح کول روا دی
- په نکاح کښی باید د مینځی په مسلمانی کی زیاتی تجسس ونه سی بلکه د هغی په ظاهره باندی اکتفاء وسی
- اصیلی ښځی که د نکاح څخه دمخه زنا وکړی نو (۱۰۰) دُری وهل کیږی او که د نکاح وروسته زنا وکړی نو سنګساریږی مګر غلام او مینځه نه سنګساریږی بلکه سزا یی همهغه (۵۰) دُری ده

د نکاح محارم

د نکاح محرمات پر دوه ډوله ده : ۱- دائمی محرمات ۲- موقتی محرمات

دائمی محرمات : په عمومی ډول هغه ښځی چی په دائمی ډول یی نکاح حرامه ده اوه (۷) دی چی عبارت دی له : مور، لور، خور، ترور، تورِیانی، وریره او خورزه

- د کومی ښځی سره چی زنا وسی د هغی د لور یا مور سره د زنا کوونکی د نکاح جواز نسته

مګر هغه اسباب چی نکاح په دائمی ډول حراموی دری دی : ۱- قرابت ۲-مصاهرت ۳- رضاع

۱- قرابت- په قرابت کی دغه اشخاص شامل دی : د شخص اصول (مور او پلار) ،فروع (اولاد)، د مور او پلار فروع، د انا او نیکه فروع

۲- مصاهرت- مصارت د دری ډوله ښځو نکاح په دایمی ډول سره حراموی : د هغه منکوحی فروع چی د میړه قربت او یا خلوت صحیحه ورسره سوی وی لکه د منکوحی لور، دمنکوحی اصول، د پلار منکوحه او د هغه موطوه که څه هم په زنا سره وی چی د جاهلیت د زمانی پوهانو هم دی نکاح ته «نکاح مقت» او هغه اولاد چی د دی نکاح څخه پیداکیده مقتی وایه

۳- رضاع- رضاع په لغت کښی د تی (مص) رودلو په معنی دی او په شریعت کښی رضاع عبارت ده د مخصوص کوچنی له خوا د مخصوص تی رودل په مخصوصه زمانه کښی چی مخصوص کوچنی شیدی خوړونکی، مخصوص تی د انسانی ښځی او مخصوصه زمانه د امام ابوحنیفه (رح) په نزد (۳۰) میاشتی او د امام احمد (رح) په نزد (۲۴) میاشتی دی. یعنی که د (۳۰) میاشتو د عمر څخه وروسته تی وروی نو د رضاع حکم نه پر جاری کیږی لکه چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : له جدائی څخه وروسته رضاع نسته او رضاعی مور د دایی په نامه هم یادیږی

د رضاع حکم : د رضاع په سبب هغه حرمت ثابتیږی کوم چی په نسب سره ثابت دی لکه چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : حرامیږی په رضاع سره هر هغه څه چی حرامیږی په نسب سره او د رضاع د ثبوت دپاره شاهدان باید دوه نارینه یا یو نارینه او دوی ښځی وی. د رضاع او نسبی حرمت ترمنځ لاندی دوه فرقونه سته

- د رضاعی خور د مور سره نکاح روا ده مګر دنسبی خور د مور سره نکاح ناروا ده
- د رضاعی زوی د خور سره نکاح روا ده مګر د نسبی زوی د خور سره نکاح ناروا ده

موقتی محرمات : هغه اسباب چی نکاح په موقتی ډول حراموی شپږ دی

- د داسی دوو ښځو یوځای کول چی که یوه یی نر فرض سی او د بلی سره یی نکاح روا نه وی لکه دوی خویندی مګر هغه خویندی چی د جاهلیت په زمانه سره یوځای سوی وی الله (ج) عفوه کوی
- مملوک (مینځه)
- مشریکه ښځه
- هغه مطلقه چی په درو طلاقو سره طلاقه سوی وی بیا ئی طلاق کوونکی ته نکاح حرامه ده
- د بل شخص منکوحه که څه هم چی په عدت کښی وی
- هغه څوک چی څلور ښځی لری د بلی ښځی جواز نسته ورته

د نکاح حکم : نکاح په عادی حالاتو کښی سنت، کله چی د زنا بیره وی وی واجب او کله چی د ښځی د حقوقو د تلف بیره وی مکروه ده

توبه

الله (ج) د هغه کسانو د توبی د قبلولو ذمه واری کوی چی په ناپوهی سره گناه وکړی نو کله چی پوهـ سی سمدلاسه توبه وکړی مگر د هغه چا د توبی د قبلولو ذمه واری یی نه ده کړی چی په قصد سره گناه کوی او یا هم د پوهیدو سره سم توبه ونه کړی او یا داچی د مرگ تر وخته گناه کوی کله چی د مرگ علامی په نظر ورسی نو وایی زما توبه ده.

امر بالمعروف او نهی عن المنکر

د امربالمعروف او نهی عن المنکر مطلب «ښوکارو ته رابلل او د بدو کارو څخه منع کول» دی

په امربالمعروف کی لاندی مطالب ضروری دی

- هغه څوک چی امربالمعروف کوی باید چی د معروف او منکر په علم باندی ښه خبر وی
- په امربالمعروف کښی باید د سړی مطلب د الله (ج) رضا وی
- امربالمعروف باید په نرمی او مهربانی سره وسی
- د امربالمعروف کوونکی باید حلیم او صبور وی

➢ امربالمعروف او نهی عن المنکر فرض کفائی دی که یوه ډله مسلمانان دغه کار وکړی نو د نورو مسلمانانو د ذمی څخه اوړی مگر که هیڅوک داکار ونه کړی نو ټول مسلمانان گنهگاریږی

د مؤمن او متعد قتل

دیو مسلمان وژل ډیره لویه گناه ده چی کیدای سی دا وژنه په قصد او یا هم په خطا سره وی

د مسلمان وژل په قصد سره : که یو څوک په قصد سره مسلمان ووژنی د هغه دپاره خلود فی النار (تل ترتله دورخ) دی او د کفاری او دیت په اجراء کولو سره نه خلاصیږی چی په دی باره کښی زیات احادیت راغلی دی :

- عبدالله بن عمرو بن عاص د حضرت محمد (ص) څخه روایت کوی چی فرمائیلی یی دی : په تحقیق سره د دنیا زوال د الله (ج) په نزد بی ارزشه دی د یو مسلمان د قتل په پرتله
- په بل حدیث شریف کښی راغلی دی : که څوک د یومسلمان په قتل کښی د کلمی د یوی برخی په اندازه کومک وکړی د قیامت په ورځ به د الله (ج) سره په داسی حال کښی وگوری چی د هغه پر تندی لیکلی وی چی د الله (ج) د رحمت څخه ناأُمیده وی

د مسلمان وژل په خطاء سره : که څوک په خطاء یو مسلمان ووژنی نو لاندی صورتونه لری

۱- که د یو چا څخه مسلمان په خطاء سره ووژل سی نو لاندی دوه حکمه سته :

- یو مؤمن غلام به آزادوی او که په وس یی پوره نه وی نو دوی میاشتی پرله پسی روژه به نیسی
- برسیره پر کفاره د وینو قیمت (دیت) به ورکوی
  - دیت بخښل کیدی سی مگر کفاره نسی بخښل کیدی

۲- که مقتول داسی مسلمان وی چی د داسی کفارو د ډلی څخه وی چی د مسلمانانو او هغوی ترمنځ د صلحی پیمان نه وی سوی نو په دی صورت کښی یوازی کفاره لازمیږی او دیت نه لازمیږی

۳- که مقتول داسی مسلمان وی چی د داسی کفارو د ډلی څخه وی چی د مسلمانانو او هغوی ترمنځ د صلحی پیمان سوی وی نو په دی صورت کښی کفاره او دیت دواړه لازمیږی

دیت- دیت د وینو قیمت ته ویل کیږی چی په حنیفی مذهب کښی سل اوښان یا زر دیناره سره زر او یا هم لس زره درهمه سپین زر دی. د فقهاؤ سره هغه درهم اعتبار لری چی د لسو درهمو وزن یی اوه (۷) مثقاله کیږی

د یتیم کفالت

د یتیم مال باید د یتیم د بلوغ تر وخته خوندی سی که بلوغ ته د رسیدو سره هم د عقل خاوند نه ؤ نو دی تر (۲۵) کلنی پوری ورته وکتل سی په دغه موده کی چی هرکله په ده کی عقل ولیدل سی دده مال دی وروسپارل سی او که نه په (۲۵) کلنی کی دی حتماً وروسپارل سی که څه هم دی د عقل خاوند نه وی

- دیو چا عقل معلومول داسی دی چی په هغه باندی بیع او شراء (رانیول او خرڅول) وسی او هغه دی وروښودل سی که بیع او شراء کولی سو نو عقل لری

- د پورته خبری څخه معلومه سوه چی د نابالغ کوچنی بیع او شراء د ولی په اجازه سره روا ده

د یتیمانو مال باید د ضرورت په اندازه او د وخت د غوښتنی سره سم مصرف سی. که ولی مالدار وی نو هغه حق نه لری چی د یتیم د مال څخه یی خپله هم وخوری مگر که ډیر محتاج وی نو خپل د خدمت په اندازه دی د یتیم د مال څخه خپل مزدوری واخلی. کله چی دیو کوچنی پلار مړ سی نو څو مسلمانان دی د هغه ټول مال ولیکی، یو امانت دار سړی ته دی وسپاری او بیا دی د دغه خط له مخی و یتیم ته وسپاری، د هغه مصارف دی هم د خط له مخی ځینی وگرځوی او د شاهدانو نیول ښه خبره ده چی آینده شخړی دمخه لاحل سی

- هغه څوک چی په ظلم د یتیم مال خوری لکه اور چی خوری او ډیر ژر به سخت اورته ورسی لکه چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : [الله (ج) د قیامت په ورځ یو قوم راڅوندی کوی چی د خولو څخه یی اور راوځی] یو کس پوښتنه وکړه هغه څوک دی؟ حضرت محمد (ص) وفرمائیل : آیا تاسی ونه لیدل چی الله (ج) فرمائی : په تحقیق سره هغه کسان چی خوری مالونه د یتیمانو په ظلم سره په یقین سره په خپلو گیډو کښی اور اچوی

د علم فضیلت

حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی : څوک چی د دنیا اراده ولری نو باید تجارت وکړی او هغه څوک چی د آخرت اراده ولری باید زهد او تقوا وکړی او هغه څوک چی د دواړو اراده ولری نو باید علم زده کړی

- د اسلام مقدس دین هغه علم توصیف کړی دی چی حضرت محمد (ص) پر هر مسلمان نر او ښځی فرض کړی دی او هم ټول هغه علوم چی جائز، مباح او د ټولنی د ضروریاتو د رفع کولو دپاره دی د قدر وړ دی
- با ایمانه علم پر عبادت فضیلت لری
- پرښتی په عبادت کی تر بشر دمخه دی مگر څنگه چی په علم کی بشر تر پرښتو دمخه دی نو ځکه د خلافت تاج بشر ته وروبخښل سو ځکه چی علم د الله (ج) د صفاتو څخه دی او عبادت د مخلوق خاصه ده

د آدم (ع) علم : د آدم (ع) کسب و دنیا ته د راتگ وروسته زراعت وؤ. عطیه بن بشر یو مشهور مفسیر ویلی دی : الله (ج)، آدم (ع) ته زر (۱۰۰۰) کسبونه وروښودل او ورته یی وویل : خپل اولاد ته ووایه! که چیری دنیا غواړئ نو وغواړئ دنیا په دی کسبو سره او مه غواړئ دنیا د دین او شرعی احکامو په واسطه

همدارنگه آدم (ع) په ټولو لغاتو او ژبو پوهیده او همدارنگه د ټولوحیواناتو، نباتاتو، ډبرو، کلیو او ښارونو په نومونو خواصو، گټو او ضررو پوهیده

د نوح (ع) علم : د نوح (ع) کسب نجاری وه. خپل قوم ته یی (۹۵۰) کاله تبلیغ وکړ چی آخر یی د مایوسی له کبله خپل قوم ته بده دعا وکړه چی الله (ج) هغه دعا قبوله کړه. نوح (ع) یوه کښتی جوړه کړه چی دری پوړه یی درلوده او طوفان په دی شکل شروع سو چی (۴۰) شپی او ورځی مسلسل باران اوریده او د مځکی څخه اوبه په جوش او دباندی راغلی ترڅو چی ټول ځایونه حتی غرونه یی هم لاندی کړل چی اوبه د لویو غرونو څخه (۴۰) متره لوړی وی.

- نو ویلی سو چی نوح (ع) د بحری کښتی لومړی مخترع دی

د داود (ع) علم : پر داود (ع) زبور نازل سوی دی، کسب یی آهنگری وه. داود (ع) داسی زغری جوړولی چی سپکی او کلکی به وی نو ویلی سو چی داود (ع) د نوی وسلی مخترع دی ترڅو چی د عباسیانو له خوا عرابی منځ ته راغلی او په اوس وخت کی ټانکونه او نوری وسلی منځ ته راغلی چی د عباسیانو د وخت عرابی لومړی ځل تیمور کوره گانی په شپږمه او اوومه پیړۍ کی په دمشق کی د باروتو په واسطه له مینځه یووړی

- د داود (ع) یوه معجزه داوه چی هغه ته اوسپنه نرمه وه او بله معجزه یی داوه چی د زبور تلاوت به غرونو او مرغانو ورسره کاوه

سلیمان (ع) : سلیمان (ع) د داود (ع) زوی وو، په (۱۳) کلنی کی پاچاهی ته ورسید، په (۵۳) کلنی کی وفات سو او(۴۰) کاله یی بی مثاله پاچاهی وکړه چی خپل په ټوله پاچاهی کی یی زنبیل اوبده او په بازارکی یی خرڅاوه

- سلیمان (ع) داسی دعا وکړه : [خدایه ماته داسی پاچاهی راکړه چی زما څخه وروسته یی بل څوک ونه کړی] نو الله (ج) باد او پیریان د هغه تر امر لاندی کړی
- د سلیمان (ع) په پاچاهی کی الله (ج) د یمن پر شاوخوا د گرمو او ویلی سوو مسو چینه پیدا کړی وه چی پیریانو

به د هغو څخه ډول ډول شیان جوړول او همدارنګه د سلیمان (ع) په وخت کی د سرو زرو، لعلو، یاقوتو، پیروزی، سپین، ژړ او شین رخام معدنونه هم وه

- پیریان د سختو کارو په کولو امر کړل سوی وه چی ځینو به د دریابو څخه جواهرات راکښل، ځینو به تعمیرات جوړول، ځینی به په ځنځیرونو بندیان وه چی نور پیریان عبرت ځینی واخلی او سرکښی ونه کړی او ځینو به د سلیمان (ع) د دربار دپاره د ابریشم غالی اوبدله
  - هغه غالی چی پیریانو به د دربار دپاره اوبدله یو فرسخ (دولس زره قدمه) مربع وه چی ددغه غالی په منځ کی به د سلیمان (ع) منبر ایښودل کیده
  - د هر پیری پر سر یوه ملائکه ولاړه وه که به پیری خپل په کار کی سرکښی کوله نو ملائکی به په چلاخه واهه نو د پیری بدن به سوځیده
- دسلیمان (ع) تخت (۴۰۰۰۰۰) چوکی درلودی چی اول به د سلیمان (ع) د دربار نږدی خلک، د هغو شاته به عام انسان، وروسته به مقرب پیریان او د هغو وروسته به عام پیریان کښینستل. د هر شخص پر سر به یو مرغ ولاړ وؤ چی خپل وزرونه به یی خلاص کړی وه چی سایه جوړه کړی. داتخت په پنځه ساعته کی د یو میاشتی د پښو لاره طی کوله یا په بل عبارت په یوه ورځ کی یی د دوو میاشتو لاره وهله
  - د سلیمان (ع) په وخت کی نهایی سرعت نه وو مثلاً د سلیمان (ع) وزیر آصف بن برخیا د سلیمان (ع) په امر د سبا د ښار د ملکی (بلقیس) تخت د یمن څخه د سترګو په رپ کی شام ته ورساوه.
  - د بلقیس د تخت اوږدوالی (۴۰) مترہ، بر یی (۳۰) مترہ او لوړوالی یی (۳۰) مترہ وه.

د قبرونو د زیارت آدب

- هدیری ته د ورتګ دمخه باید دوه رکعته لمونځ وسی او ثواب یی مړی ته وبخښل سی
- هدیری ته د ننوتلو په وخت کی باید څپلی وکښل سی
- په داسی ډول چی شا د قبلی خواته وی دا کلمات وویل سی : السلام علیکم یااهل القبور یغفر الله لنا ولکم انتم سلفنا ونحن باالاثر
- د دعا په وخت کښی باید قبلی ته مخامخ ودریږو

توسل : دیو کار د اجراء او یا کوم مشکل د حل لپاره یوشخص واسطه کول د توسل په نامه یادیږی.

- توسل پر دوه ډوله دی
  - توسل په نیکو عملونو لکه لمونځ، صبر او نور چی د دی ډول توسل په روا والی کی هیڅ شک نسته ځکه په دی هکله په قرآنکریم کی آیت راغلی دی
  - توسل د الله (ج) په نیکو بنده ګانو چی د دی ډول توسل روا والی په احادیثو سره ثابت دی

د الله (ج) نعمت ته نږدی او لری کسان

هغه کسان چی د الله (ج) نعمت پر سوی دی څلور طائفی دی

- پیغمبران (ع)
- صدیقین [ریښتیا ویوونکی او راست کاران]
- شهداء [هغه کسان چی د الله (ج) د کلمی د لوړولو دپاره یی ځانونه قربان کړی دی]
- صالحین [هغه کسان چی نیک عملونه یی کړی او له ناروا عملونو څخه یی پرهیز کړی دی]

پخوانی او اوسنی ګمراهان په لاندی دوو طائفو کی شامل دی

- هغه ګمراهان چی په ناپوهی سره د سمی لاری څخه محروم، منحرف او بیرته پاته دی لکه نصارا (د عیسی (ع) پیروان)
- هغه ګمراهان چی د پوهی سره سره یی قصداً د الله (ج) له بنده ګی څخه سرکښی کړی ده او له پیغمبرانو سره یی دښمنی کړی ده تردی چی پیغمبران یی وژلی دی لکه یهود (د موسی (ع) پیروان)

د تاوان څخه د خلاصون لاری

ددی دپاره چی انسان د تاوان څخه خلاص سی څلور شیان ضروری دی

- ایمان په الله (ج) او حضرت محمد (ص) او د الله (ج) په وعدو باندی چی دا وظیفه د زړه ده
- د نیکو عملونو سرته رسول چی دا وظیفه د بدن د اعضاؤ ده

- یوتربله د حق دین، توحید، قرآن او بنو کارونو ته رابلل چی دا د هرمسلمان اجتماعی وظیفه ده
- مسلمانانو ته نصیحت کول ترڅو دوی د سختیو په مقابل کی صبر او استقامت ولری

د قیامت په ورځ د بنده ګانو تقسیم

د قیامت په ورځ به الله (ج) بنده ګان پر دوو برخو تقسیم کړی

- هغه خلک چی نیک عملونه یی تر بدو عملو درانه وی لکه معصوم او بخښل سوی مؤمنان
- هغه خلک چی نیک عملونه یی تر بدو عملو سپک وی لکه فاسقان او کافران
  - کافران هیڅ بنه عمل نه لری ځکه د عمل د صحت دپاره ایمان شرط دی او کافران ایمان نه لری نو دوی چی هرڅومره بنه عملونه وکړی صحت نه لری

عالم برزخ : عالم برزخ قبر ته ویل کیږی

هُمزه او لمزه : هُمزه هغه څوک دی چی په بنکاره ډول د خلکو عیب په لاس او ژبه لټوی او لمزه هغه څوک دی چی په پټه او د سترګو په اشارو سره د خلکو عیبونه پلټی

هاویه : هاویه د دوزخ نوم دی. هاویه د هوی یهودی څخه اخستل سوی دی چی د لویدلو په معنی دی ځنکه چی دوزخیان هلته لویږی نو ځکه په دغه نامه مسما سوی دی

اصحاب صفه : هغه څلور سوه کسان چی خپل کور او ژوند یی پرایښی وؤ او ځانونه یی د الله (ج) په لار کښی وقف کړی وه د اصحاب صفه په نامه یادیږی. که به حضرت محمد (ص) دوی جهاد ته لیږل نو تلل به او که نه په نبوی مسجد کی به ناست وه، قرآن او احادیث به یی په یادوول

دښځی غوره اوصاف : بنځه د څلورو صفتونه په خاطر په نکاح کیږی چی هغه عبارت دی له : دینداری، حسن، نسب او شتمنی.

انسی او جنی شیطان : انسی شیطان نسبت جنی شیطان ته ډیر خطرناک دی ځکه چی جنی شیطان د اعوذبالله په ویلو سره تښتی مګر انسی شیطان نه تښتی

حسد او غبطه : د نورو د نعمت د زوال غوښتل حسد او د نورو د نعمت مثل غوښتل غبطه بلل کیږی چی په شریعت کښی حسد ناروا او غبطه روا ده

بیع

بیع په لغت کی د یوشی تبادلی ته وایی د بل شی سره او په اصطلاح کی بیع عبارت ده له تبادلی څخه د مال په مخصوصه طریقه سره

- بیع مباح ده او ځینی وخت د ضرورت له مخی واجب ګرځی
- مال هغه څه ته ویل کیږی چی طبیعت میلان ورته ولری او شرعاً ارزښت ولی مثلاً دوی لپی غنم چی ضرورت نه رفع کوی نو مال نه بلل کیږی
- مبروره بیع هغه بیعی ته ویل کیږی چی فریب، خدعه، ناحقه قسم او هیڅ ډول حرمت نه وی پکښی

د بیعی ارکان : بیع دوه ارکان لی چی عبارت دی له ایجاب او قبول څخه

- د ایجاب او قبول الفاظ باید ماضی وی مګر که یو د دوی او یا دواړه په مستقبل الفاظو وی باید د حال معنی ورکړی
- قبول باید د ایجاب سره موافق وی

د بیعی شرطونه : د بیعی شرطونه پر څلور ډوله دی

۱- د بیعی د عقد شرطونه

- عقد کوونکی باید عاقل، ممیز او متعدد وی
- قبول باید د ایجاب موافق وی
- په یو ځای کی د ایجاب او قبول کیدل
- بایع او مشتری باید یو د بل خبری واوری
- مبیعه باید موجوده وی

- مبیع باید داسی شی وی چی د بایع په ملکیت کی وی
- مبیع باید داسی شی وی چی بایع یی د تسلیمیدو توان ولری

۲ـ د بیعی د نفاذ شرطونه

- مبیعه باید د بایع مملوک او یا هم د هغه تر ولایت لاندی وی
- په مبیع کی باید د بل چا حق نه وی موجود

۳ـ د بیعی د صحت شرطونه

- د بیعی د عقد د صحت شرطونه باید ټول موجود وی
- بیع باید موقته نه وی
- مبیعه او ثمن باید معلوم وی
- په بیع کی باید شرط نه وی
- په بیع کی باید د بایع او مشتری ګټه وی

۴ـ د بیعی د لزوم شرطونه : چی عبارت دی له خلو بیع او خیار شرط څخه

د بیعی ډولونه

- **بیع د مبیعی او ثمن په لحاظ پر څلور ډوله ده**
  - مقایضه بیع : چی د تبادلی شیان دواړه جنسونه وی
  - د صرف بیع : چی د تبادلی شیان دواړه نقدی وی
  - د سلم بیع : چی پیسی اوس ورکړل سی مګر جنس وروسته ورکړل سی
  - مطلقه بیع : چی مبیعه اوس ورکړل سی مګر ثمن که اوس وی او که وروسته
- **بیع د ثمن په لحاظ پر څلور ډوله ده**
  - تولیه بیع : د مبیعی خرڅول په اولنی قیمت سره
  - مرابحة بیع : د مبیعی خرڅول د اولنی قیمت څخه په زیات قیمت سره
  - وضیعة بیع : د مبیعی خرڅول په تاوان
  - مساومه بیع : چی اوسنی قیمت د اولنی قیمت سره اړیکه ونه لری
- **بیع د حکم په لحاظ پر څلور ډوله ده**
  - نافذه بیع : هغه بیع ته ویل کیږی چی د عقد وروسته دستی عملی سی
  - موقوفه بیع : هغه بیع ته ویل کیږی چی د عقد وروسته د یوچا په اجازه عملی سی
  - فاسده بیع : هغه بیع ته ویل کیږی چی شرط پکښی وی
  - باطله بیع : هغه بیع ته ویل کیږی چی مبیع یا رکن پکښی نامعلوم وی

په بیع کی خیار

خیار په دی معنی دی چی بایع یا مشتری بیع په اجراء یا فسخ کولو کی اختیار ولری

- خیار پر دری ډوله دی
  - **د شرط خیار :** هغه خیار ته ویل کیږی چی بایع یا مشتری د بیع په قبول یا رد کی شرط ایښی وی
    - د شرط د خیار زیات وخت دری ورځی دی او د هغه څخه زیات جایز نه دی
  - **د لیدلو خیار :** کله چی یو چا شی نه وی لیدلی او بیا یی وویني نو کولی سی چی بیع قبوله یا رد کړی
  - **د عیب خیار :** که یو څوک د یوشی د رانیولو وروسته په هغه کی کوم عیب پیداکړی نو کولی سی چی دغه بیع قبوله یا رد کړی

د بیعی ځینی ډولونه

باطله او فاسده بیع

- باطله بیع هغه بیعی ته ویل کیږی چی په هغه کی د بیع رکن [قبول یا ایجاب] یا هم محل [مبیعه] مختل وی او اصلاً مشروع نه وی
  - باطله بیع په هیڅ صورت ملکیت نه افاده کوی
- فاسده بیع هغه بیعی ته ویل کیږی چی په هغه کی کوم شرط ایښودل سوی وی
  - که په فاسده بیع کی مشتری مبیعه د بایع د شرط په ډول تصرف کړی نو بیع صحیح راځی مګر

Ñ - » - ê - / - Ú ã ” / ¦ ³ Ó Ê ó 6 ‘) é ê ã ¯ 5 û - — - ! ã ç 6 ³ ç • 6 ¢ 0 3 ß • í 6 } ž Ó Ž 5 ! © ©
5 í / é © • Ž ó Ó 0 ê ç ã ” ê ç ³ Ó 6 ó ê / - Ú ã š ó ‘ Ÿ ³ • Ó Ê ó © ê Ð - ë í ç 5 ” / í
5 œ é í - 0 å ã Ž ã 5 © ç ú Ê ó é ‘ í - 0 ã
Ý í (/ 6 ß) û Ê © ó Ÿ x —
Ý í x - • S ã ó • ³ Ž ç Ž ã ç Ž ó • Ý í ó ç ç ž © ó • ã ó ê × ç • ē ł • Ý à – ê ¦ – ã 6 à ó © Ó x Ž ×
é ê é í - 0 Ê ã ő ç 5 í Ê ç ž l ã ç © 6 à l ã Ÿ Ý í x - ß • Ý í ó ê ç / - x
é ê ¯ ó é Ž ê Ÿ é ç í - 0 6 ã ¯ à Á í x ©
é í © ê § x ç ó ß ê © ³ Ž ç Ÿ í ã ã © 6 / ¡ ü Á » ê ! Ì ó - © í • 6 ó ê í 6 – ß • í 6 – / ž Ð ß Ž ‘ : - (© í) ³ Ž ‘ -
í ã ç í Ï ç ã í œ ê á ç å ã ó Õ › 5 í ½ í Ë 6 / Ý ‘ Ž ê Ø ã ç Ÿ 5 í ³ • Ž ó © 6) 5 © - © ó ß ó ê í 6 – ß • í — Ž ó ¯
é ê ã • Ý Æ Ð (à ©) ³ Ž ‘ - x
5 š ó ê ã Ž ã Ø ç à © 5 ” / ê ³ û - – ê — ³ Ñ - Ž í ã 5 ” / - í 6 ó Ý ‘ 2 ã ø : á à ³

5 © 5 í ³ å Ž ó ‘

é © 5 Œ Ë í ç 6 ç ő • 5 © 5 í ³ Ý ¯ Ž / ç é - í ç ã ç ó © ã í ³ • 6 © 5 © é © 5 Œ Ë å ó - ó 6 Ô ç ã x
- í ç • 6 / ê 0 ã ! 6 / é - Ž ! é - ó å Ð ‘ ã ó Ž ß ő Ý ì Ÿ] í Ý • ‹ å í ‘ ¹ Ž Ë © 6 ó ê ç í 5 — © • ç ß í) • 5 ©
. 5 © 5 í ³ Ý ¯ Ž / ç é - Ž ! Õ Ó Ž ç ã å ‘ 6 ‘ å ‘ Ì © ‘ Ë 6 / é - í ç ã ç ó © 6 ã ê ç í — ó •

á ó É — © 5 © 6 « ß • « Ó å ó © ß Ž 5 « ß ó • - •
é - ¹ £ ó í ‘ ß ” ê á ó ì — 5 — ” ó ì 6 X 6 -) 5 © ê Ð ì ã é ç • ¯ Ÿ f - í ê 6 ó ‹ í - 6) - í x ê Ð ë ë 6 - ç Ž í ó •
å ó à » Ý ã ó à í ß Ó å ó 0 ³ ã Ž ß 6 Á à Ë ² £ ô ì í
6 0 ç í g / ç í ã é ß - Ž 5 ! © ß / ü ë ± ! å ó 0 © ã Ž È Á Ý í Ø ó Ý í ‹ ¯ 5 ó í — / ê ç •
å í ï õ • - ő ë å ó « ß • å í ë Ž à ³ — å Ž Ë à é 5 « ß •
5 í / 5 - Ž Ž ó 5 - í 6) å Ž ³ ê / Ð ë 5 í é - ‘ 6 ‘ Ý ! ê h ç é Ž 6 ß å Ž ³ ê / Ð ë
å í Ë Ž å ã í ß ç ã ó í
ê æ ‘ ß ó © • © • ã Ž • ‘ ³ Ž • ó Ž / ® Ý Ž 5 ã í / Ê ç í ã

“ - í ³ - › í / ©

Ý à ‘ ê • — © Ž í ‘ Ë © ó £) í Ì — © å Ž ç Ž ß / ³ “ ç - • í ³ 5 © ê . ! 5 © ê — 5 é 6 • 5 í ³ Ý ¯ Ž / ç ê 0 ã ! ‘ - í ³ - › í / ©
. 5 © 5 í ³
- £ ç • ‘ í - ß Ý » Ó - › í 0 . ß ç • ó Á Ë ç •
é í 6 ç Ž í ‘ • Ý × ! § - © é - Ž é ! í g ç í ã ç ß (6 / • ç Ÿ ê ê ß Ž • ó ő § ó) € › í ê — 5 Ž 5 — / - ® ç í ê ã 0 · ó ‘
- — ‘ í ê ë • ‹ ç Ž å •
5 © é - ó § ê ê 6 © Ž ő 6 ç 5 © í x ê Ð Ž ë — å ã ¢ ê © 0 6 ‘

“ - í ³ å í - Ó © Ž /

í — § ó ” ã é ê ü ³ © 6) 5 © • ‘ © ³ Ý í ¯ © ‘ - í ³ 5 © . 6 © ê — š ó • í • 5 í ³ Ý ¯ Ž / ç ê 0 ã ! ‘ - í ³ å í - Ó © Ž /
• - ¿ £ å Ž Ÿ · Ï ó - © í ç 5 ” / í ¢ à » é - ³ 5 í © 6 ©) 5 ” / 6 ¿ • (¬) © ã £ ã ¿ £ é í Ž ð ð ¢ • í © ç • - ó / Ž /
• © Ž (¸) Ë © Ž — š ç í ã Ý Ž Ý ‘ é ” / • í © Ž í ‘ Ç Ž © š — ç ‘ í ã Ý ¯ Ž / é 6 —) Ý ó í ó í ê — í - • Ý à Ï ê í (¬) © ã £ ã
. ” / Ý ¯ Ž - ç í ³ 2 ” í ã é ç - Ž © ! © 5 - ‘ § 5 © 5 © í Ð © (.) Ì í ç 6 ³ í ¢ à » ê ‘ g ç ã 6 ³ — Ž í • ³ ç í ã ç ï ” / í
å í © Ž Ì ã © — ‘ Ë • å í - Ó Ž 0 ó Ž ‹ ó
(å Ž / ‰ ‘ í • / © Ž 6 Ë 6 ³ Ž 6 —) 6 · ê Ð © • © Ž Ý Ë Ž £ 6 © • ã í ê ç ! í ç • í - 5 Ó • Ž © / ã £ ã 5 • í í

- «قولوا امنا باالله ومانزل اِلنا ومانزل اِلی ابراهیم و اسمعیل و اسحق و یعقوب و الاسباط و ما اوتی موسی و عیسی و ما اوتی النبیون من ربهم لانفرق بین احدٍ منهم ونحن لهُ مسلمون» ترجمه : «ووایی مونږ ایمان راوړی دی پر الله (ج) اوپرهغه شی چی رالیږل سوی دی مونږ ته اوهغه شی چی نازل سوی دی ابراهیم او اسمعیل او اسحق او یعقوب او اولاد د یعقوب ته او پرهغه شی چی ورکړل سوی دی موسی او عیسی ته او پر هغه شی چی ورکړل سوی دی نورو پیغمبرانو ته د دوی د پروردګار له خوا. تفریق نه کوو په منځ کی دهیڅ یوه له دوی څخه او مونږ خپل پروردګار ته منقاد یو»
- «فاتوا بسورةٍ من مثله» ترجمه : «نو راوړی یو سورت د هغه په ډول»
- «قل لئن اجتمعت الانس والجن علی ان یاتوا بمثل هذا القران لایاتون بمثله ولوکان بعضهم لبعض ظهیراً» ترجمه : «ووایه خامخا که چیری جمع سی انسانان او پیریان په دی چی راوړی په شان ددی قرآن نو هیڅکله به رانه وړی په ډول د دی قرآن که څه هم دوی یو د بل کومکیان سی»
- «انا نحن نزلنا الذکر و اِنا لهُ لحفظون» ترجمه : «بیشکه مونږ په خپله نازل کړی دی قرآن او همیشه مونږ دده خامخا ساتونکی یو»
- «ومن یعظم شعائر الله فانها من تقوی القلوب» ترجمه : «او هرچا چی تعظیم وکړ د شعائرو د دین د الله (ج) پس بیشکه چی دا کار د زړونو د تقوا څخه دی»
- «اولم یروان الله الذی خلق السموات والارض ولم یعی بخلقهن بقادر علی ان یحی ی الموتی ط بلی» ترجمه : «ایا نه وینی (فکر نه کوی) چی بیشکه الله (ج) هغه ذات دی چی پیداکړی یی دی آسمانونه او مځکه حال داچی نه دی ستړی سوی د هغوی په پیداکولو کی. قادر دی په دی باندی چی ژوندی کړی مړی؟ هو [قادر دی د مړو په ژوندی کولو]»
- «اقرا کتبکَ ط کفی بنفسک الیوم علیک حسیباً» ترجمه : ووایه عملنامه خپل بس دی همدا ستا ځان نن ورځ پر تا باندی حساب کوونکی»
- «لاخذ کم الله باللغوه فی ایمانکم» ترجمه : «الله (ج) تاسی په لغوه قسمونو باندی نه مواخذه کوی»
- «والله ربنا ماکنا مشرکین» ترجمه : «قسم په الله (ج) چی زمونږ رب دی او مونږ مشرکان نه یو»
- «باالله ان الشرک لظلم عظیم» ترجمه : «په الله (ج) قسم چی شرک خامخا لوی ظلم دی»
- «تالله لاکیدن اصنامکم» ترجمه : «په الله (ج) قسم چی زه به ستاسو د بتانو سره فریب وکړم یعنی مات به یی کړم»
- «فاسلو اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون» ترجمه : «نو پوښتنه وکړی تاسی له اهل الذکر څخه که یاست تاسی چی نه پوهیږی»
- «هوالله الذی لا اله الاهو علم الغیب و الشهادة هو الرحمن الرحیم» ترجمه : «دغه الله هغه ذات دی چی نسته هیڅ معبود مګر همدی دی چی عالم دی په غیبو او ښکاره ؤ باندی همهغه [الله] دی خورا مهربان ډیر رحم والا»
- «الم تر الی الذی حاج ابراهیم فی ربه ان اتئهُ الله الملک اذقال ابراهیم ربی الذی یحی ویمیت» ترجمه : «آیا نه دی لیدلی تا هغه سړی چی جګړه یی کړی وی د ابراهیم سره په حق د رب دده کښی له دی جهته ی ورکړی وه ده الله پاک ملک (سلطنت) کله چی وویل ابراهیم رب زما هغه ذات دی چی ژوند کوی او مړه کوی»
- «وتلک حجتنا اتینها ابراهیم علی قومه نرفع درجاتٍ من نشاءُ ان ربک حکیم علیم» ترجمه : «او دا دلیل زمونږ دی چی ورکړی مونږ هغه ابراهیم ته په مقابله د قوم دده. پورته کوو مونږ درجی هر چاته چی اراده وفرمایو بیشکه رب ستا ډیر حکمت والا ښه عالم دی»
- «انما قولنا لِشی اذا ارد نه ان نقول لهُ کن فیکون» ترجمه : «بیشکه (همدا خبره ده) چی خبره زمونږ کوم شی ته کله چی اراده وکړو (دپیداکولو) د هغه داده چی وایو هغه ته چی پیداسه نو پیداسی»
- «والله یحکم لامعقب لحکمه» ترجمه : «او الله حکم کوی نسته هیڅ څوک رد کوونکی دپاره دحکم د هغه»
- «وما تشاءُ ون الا ان یشاء الله» ترجمه : «او نسی قصد کولای تاسی مګر هغه چی اراده وفرمایی الله»
- «ولما جاء موسی لمیقاتنا و کلمه ربه» ترجمه : «او کله چی راغی موسی (ع) موعود وخت زمونږ ته او کلام وکړ له هغه سره رب دده»
- «یاموسیٰ ٓ انی انا ربک فاخلع نعلیک انک بالواد المقدس طوی ٓ » ترجمه : «ای موسی زه چی یم همدازه

رب ستا یم پس وباسه پنی خپلی، بیشکه ته چی یی په میدان پاک د طوی کښی یی»

- «ان ربک فعال لمایرید» ترجمه : «بیشکه رب ستا کوونکی دی د هر هغه کار چی اراده وفرمائی»
- «قُل ادعوا الله او ادعوا الرحمن ایا ما تدعوا فله الاسماء الحسنی» ترجمه : «ووایه ای محمد! دوی ته وبولئ تاسی الله یا وبولئ تاسی رحمن، هرنوم ئی چی وبولئ نو هغه ښه دی نو ده لره دی نومونه ډیرښه»
- «وخلق کل شی فقدره تقدیراً» ترجمه : «او پیداکړی دی الله هرشی پس اندازه کړی ئی دی، هغه شی په اندازه کولو سره»
- «الذی احسن کل شیی خلقه وبدا خلق الانسان من طین» ترجمه : «هغه الله چی ښایسته کړی ئی دی هرشی چی پیدا کړی ئی دی هغه هر موجود بالخصوص انسان او شروع کړی ئی دی پیدایښت دانسان یعنی آدم (ع) له خټی څخه»
- «وما انت بمومن لنا» ترجمه : «اونه ئی ته تصدیق کوونکی او باورکوونکی مونږ لره»
- «ولهُ اسلم من فی السموات والارض طوعاً وکرهاً» ترجمه : «اوخاص الله لره غاړه ایښودونکی او فرمان وړونکی دی هغه چی په آسمانونو او مځکه کښی دی په خوښه او زور سره»
- «قالت الاعراب امناط قل لم تومنوا ولکن قولو اسلمنا ولمایدخل الایمان فی قلوبکم» ترجمه : «وویل صحرایانو ایمان مو راوړی دی ووایه ای محمده! دوی ته له سره ایمان نه دی راوړی تاسی ولیکن ووایی اسلام راوړی دی مونږ او له سره نه دی ننوتی ایمان په زړونو ستاسی کښی»
- «انا ارسلنک بالحق بشیراً و نذیراً ولاتسل عن اصحب الجحیم» ترجمه : «بیشکه مونږ لیږلی یی په حق سره زیری ورکوونکی او بیرونکی او له تاځخه پوښتنه نه کیږی د دوزخ له خاوندانو»
- «ربنا ماخلقت هذا باطلاً ج سبحنک فقنا عذات النار» ترجمه : «ای ربه زمونږ! نه دی پیداکړی تا دا مخلوقات عبث نسبت دی د پاکی تاته نو وساته مونږ له اور څخه»
- «اعملو ماشیتم» ترجمه : «عمل وکړی هغه څه چی اراده کوی»
- «من یطع الرسول فقد اطاع الله» ترجمه : «هرهغه څوک چی اطاعت وکړی د پیغمبر (ص) گویا د الله (ج) اطاعت یی کړی دی
- «لهاماکسبت وعلیها ما اکتسبت» ترجمه : «هغه لره دی هغه څه چی کسب یی کړل او پر هغه دی هغه څه چی کسب یی کړل»
- «فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر» ترجمه : «الله (ج) هیڅوک په ایمان او کفر او نورو اعمالو نه دی مجبور کړی»
- «و وفیت کل نفس ما عملت وهو اعلم بما یفعلون» ترجمه : «او پوره به ورکړه سی هر نفس لره جزاء د هغه د عمل چی کړی یی ؤ او الله (ج) ښه عالم دی پر هغو اعمالو چی دوی یی کوی»
- «جزاءً بما کانوا یعملون» ترجمه : «جزاء بدل ورکول دی په هغو چی دوی به کول»
- «فبهداهم اقتده» ترجمه : «نو د دوی په طریقی باندی اقتداء وکړه»
- «واتبعت ملة ابآی ابراهیم و اسحق و یعقوب» ترجمه : «او پیروی یی وکړی د دین د پلرونو خپلو ابراهیم او اسحق او یعقوب»
- «واتبع سبیل من اناب الی» ترجمه : «او پیروی وکړه د هغه چا چی رجوع لری زما خواته»
- «و اذ قیل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع ما الفینا علیه اباء نا» ترجمه : «او که چی وویل سی دوی ته چی پیروی وکړی د هغه څه چی نازل کړی دی الله (ج) نو وایی نه. بلکه پیروی کوو د هغه څه چی موندلی مو دی مونږ پرهغه باندی پلرونه خپل»
- «ولسلیمن الریح عاصفةً تجری بامره الی الارض التی برکنا فیها وکنا بکل شی علمین» ترجمه : «او تابع کړی وه مونږ سلیمان ته باد تند چی روانیده په حکم د سلیمان او رساوه به یی مځکی د شام ته هغه ته چی برکت ایښی ؤ مونږ په هغی کی او یو مونږ په هرشی عالمان»
- «ومن الشیطین من یغوصون له ویعملون عملاً دون ذلک وکنالهم حفظین» ترجمه : «او تابع کړی وه مونږ ده ته ځینی له شیطانانو څخه چی غوتی به یی وهلی په سیند کی دده دپاره او کول به یی نور ډیر کارونه به یی له دی نه او وو مونږ دوی لره ساتونکی (له فساد څخه)»
- «فسخرتاله الریح تجری بامره رخاءً حیث اصاب» ترجمه : «پس مسخر (تابع) کړ مونږ دغه سلیمان ته باد چی چلیده په امر او حکم دده سره نرم نرم هر چیری چی اراده به وسوه دده»

- «والشیطین کل بناء و غواص» ترجمه : «او مسخر کړل مونږ ده ته پیریان شیطانان هر بنا کوونکی (د ښو لوړو عمارتو) او غوټه وهوونکی»
- «و اخرین مقرنین فی الاصفاد» ترجمه : «او تابع موکړل سلیمان ته نور سرکښی شیطانان ټرل سوی دی په ځنځرو کی (د ضرر د دفع کولو دپاره)»
- «ولیسلیمن الریح غدوها شهر و رواحها شهر و اسلنا له عین القطر ومن الجن من یعمل بین یدیه با ذن ربه ومن یزغ منهم عن امرنا نذقه من عاب السعیر» ترجمه : «او تابع کړی مو وه سلیمان ته باد د سبایی د هغه دیوی میاشی او د بیګایی د هغه د یوی میاشتی و. او بهولی مو وه د ده د پاره چینه د ویلی سوو مسو او تابع کړی مو و ده ته هغه څوک چی کار به یی کاوه په مخ دد ه کی په اذن (حکم) د رب د ده او هر چا چی به ځنګه سرکښی وکړه له دوی نه، له امره زمونږ (او د سلیمان اطاعت به یی نه کاوه) نو وبه ځکو مونږ هغو ته په آخرت کی له عذابه د اور.»
- «یعملون له مایشاءُ من محاریب وتماثیل و جفان کالجواب و قدور رسیت اعملو ال داود شکراً و قلیل من عبادی الشکور» ترجمه : «جوړاوه دغو پیریانو دغه سلیمان ته هر هغه شی چی ده غوښت له هسکو قلاؤ او تمثالونه. او لوی لنګونه په شان د حوضونو او په شان دلویو کلکو دیګو پر نغریو پراته وفرمایل مونږ عمل کوی د نیکو. آل د داوده! دپاره د شکر او لږ دی بندګان زما شکر ایستونکی»
- «قیل لها ادخلی الصرح فلما راتهُ حسبته لجةً و کشفت عن ساقیها قال انه صرح ممرد من قواریر» ترجمه : «وویل سول دغی بلقیس ته چی ننوزه دی بنګلی ته پس کله چی ولیده بلقیس دا ښیښه نو ګمان یی پری وکړ د ژورو اوبو او پورته یی کړی پایځی له دواړو پندیو خپلو نو وویل سلیمان بیشکه دغه اوبه نه دی یوه بنګله ده په مځکه هواره ښویه جوړه سوی له ښیښو ځخه»
- «یآیهاالذین امنو اتقوا الله حق تقته ولا تموتن الا و انتم مسلمون» ترجمه : «ای هغه کسانو چی ایمان یی راوړی دی! (ای مومنانو!) وویریږئ له الله ځخه په حق د ویری د ده! او مه مری مګر پداسی حال کی چی یی تاسی مسمانان»
- «واعتصمو بحبل الله جمیعاً و لاتفرقوا و اذکروا نعمت الله علیکم اذکنتم اعداءً فالف بین قلوبکم فاصبحتم» ترجمه : «په رسی د الله (ج) (قرآن کریم) منګولی ولګوی او مه سره مختلف کیږی او یاد کړی تاسی نعمت (احسان) دالله (ج) پرتاسی کله چی وئ تاسی دښمنان نو الفت (مینه) یی پیداکړ په منځ د زړونو ستاسو کښی نو وګرځیدئ»
- «بنعمته اخواناً وکنتم شفا حفرة من النار انقذکم منها کذلک یبین الله لکم ایته لعلکم تهتدون» ترجمه : «تاسی په نعمت د الله (ج) سره (اسلامی ورونه) او وئ تاسی په غاړه د کندی د اور نو خلاص یی کړئ تاسی له هغه اوره په اسلام سره همداسی (لکه چی د اتفاق مفاد او د نفاق ضرر ئی بیان کړل) بیانوی الله تاسی ته دلایل خپل لپاره د دی چی تاسی په سمه صافه لاره ثبات او دوام ومومئ»
- «انما التوبه علی الله للذین یعملون السوء بجهالة ثم یتوبون من قریب فاولیک یتوب الله علیهم و کان الله علیماً حکیماً» ترجمه : «بیشکه قبلول د توبی په الله دی دپاره د هغو کسانو چی کوی دوی ناکاره په ناپوهی سره بیا توبه وباسی دوی په نږدی زمانه کی (له مرګ ځخه دمخه) نو دغه کسان رجوع به کوی په رحمت سره الله په دوی باندی او دی الله ښه عالم، ښه حکمت والا»
- «ولیست التوبه للذین یعملون السیات حتی اذ احضر احدهم الموت قال انی تبت الین ولا الذین یموتون وهم کفار اولیک اعتدنا لهم عذاباً الیماً» ترجمه : «او نسته وعده د توبی د قبلولو دپاره د هغو کسانو چی کوی دوی ګناهونه ترهغه پوری چی راحاضر سی یو د دوی اسباب د مرګ نو وایی بیشکه ماتوبه وویسته او نه قبلیږی توبه دپاره د هغو کسانو چی دوی مړه سی حال داچی دوی کافران دی دغه کسان چی د کفر په حال کی مری، په عین غرغره کی توبه کوی تیارکړی دی مونږ دوی ته عذاب دردناک»
- «ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر و یامرون بالمعروف وینهون عن المنکر و اولیک هم المفلحون» ترجمه : «او وی دی تل له تاسی یوه ډله چی بولی خلق په طرف د خیر (اسلام) او امر کوی په معروف (نیکی) سره او منع کوی له منکر (بدی) ځخه او دغه همدوی دی په مراد رسیدلی»

- «وما کان لمومن ان یقتل مومنا الا خطأً ومن قتل مومنا خطأً فتحریر رقبة مومنة و دیه مسلمة الی اهله الا ان یصدقو فان کان من قوم عدولکم وهو مومن فتحریر رقبة مومنة» ترجمه : «او نه ښایی هیڅ مومن ته چی بل مومن مړ کړی مګر په خطا سره او هرڅوک چی مړ کړی کوم مومن په خطا سره نو سته پر قاتل

د غاړی (مرئی) مومن او دیت سپارل دی اهل د مقتول ته مګر که یی معاف کړی. که مقتول د دښمنانو ځخه وی او مومن وی نو سته د مرئی آزادول بغیر د دیت ځخه»

- «و ان کان من قوم بینکم و بینهم میثاق قدیة مسلمة الی اهله و تحریر رقبة مومنة فمن لم یجد فصیام شهرین متتابعین توبه من الله وکان الله علیماً حکیماً» ترجمه : «او که وؤ دا مقتول له داسی قومه چی ستاسی او د هغو ترمنځ عهد سوی وی نو مومن لره د دیت ورکول و وارثانو ته او د غاړی آزاول سته. روژه نیول د دوو میاشتو پرله پسی، توبی له جانبه د الله او الله بنه عالم او لوی حکمت والا دی»
- «و من یقتل مومنا متعمداً فجزاءُ ه جهنم خالداً فیها و غضب الله علیه و لعنه واعدله عذاباً عظیما» ترجمه : «او هرځوک چی مړکړی کوم مومن په قصد سره نو جزا د ده دورخ دی چی تل به وی په هغه کی او غضب کړی دی الله په ده باندی او لری کړی دی الله او تیارکړی دی ده ته عذاب ډیر لوی»
- «ولا تؤ تو السفهاء اموالکم التی جعل الله لکم قیماً وارزقوهم فیها و اکسوهم وقولو الهم قولاً معروفاً» ترجمه : «او مه ورکوی تاسی بی عقلانو ته مالونه خپل هغه چی ګرځولی دی الله دپاره د تاسی سبب د ګزران او روزی ورکوی دوی ته په دی مالونو کی او جاموی ورکوئ دوی ته او ووائی خبره معروفه»
- «و ابتلو الیتمی حتی اذا بلغو النکاح فان انستم منهم رشداً فادفعوآ الیهم اموالهم» ترجمه : «او و ازموئی تاسی یتیمان ترهغه پوری کله چی ورسیږی دوی نکاح ته نو که مونده تاسی له هغو نه هوښیاری (په معاملاتو او د مال په ساتنه کی) نو وسپارئ تاسی هغوی ته مالونه»
- «ولا تاکلوها اسرافاً و بدارا ان یکبروا ومن کان غنیاً فلیستعفف ومن کان فقیراً» ترجمه : «او مه خوری تاسی دا په اسراف سره او په جلتئ سره چی دوی به لوی سی او هرځوک چی وی مال داره نو ښائی ځان پاک وساتی او هرځوک چی وی فقیر»
- «فلیا کل بالمعروف فاذا دفعتم الیهم اموالهم فاشهدوا علیهم وکفی بالله حسیباً» ترجمه : «نو خوری دی له دی مال ځخه په معروف سره نو کله چی ورکړئ دغو ته مالونه نو شاهدان ونیسئ تاسی پر دوی باندی او کافی دی الله په دی حال کی چی بنه حساب کوونکی دی»
- «ولیخش الذین لوترکوا من خلفهم ذریة صعافاً خافوا علیهم فلیتقوا الله ولیقولوا قولاً سدیداً» ترجمه : «او ودی ویریږی هغه وصیان که پریږدی دوی پس له مرګه خپل اولاد ضعیفان ویریږی به دوی په دغو پس ودی ویریږی دوی له الله ځخه او ودی وایی دوی ته خبره سمه خوږه»
- «ان الذین یاکلون اموال الیتمی ظلما انما یاکلون فی بطونهم نارا وسیطون سعیراً» ترجمه : «بیشکه هغه کسان چی خوری دوی مالونه د یتیمانو په ظلم سره خبره داده چی خوری دوی په ګیډو خپلو کی اور او ژر به ورسیږی دوی اور سخت ته»
- «وانکحوا الایامی منکم والصلحین من عبادکم و امائکم ان یکونوا قراء یغنهم الله من فضله و الله واسعٌ علیم» ترجمه : «او په نکاح ورکول هغه بی میړو ښځی او بی ښځو سړی له تاسی او نیکان له مریو خپلو او له وینځو خپلو که چیری وی فقیران نو غنیان به کړی دوی الله له فضله خپل او الله پراخی کوونکی بنه پوهـ دی»
- «ومن لم یستطع منکم طولا ان ینکح المحصنت المومنات فمن ما ملکت ایمانکم من فتیتکم المومنات» ترجمه : «او هغه ځوک چی توان نه لری له تاسی له جهته د غناء ددی چی په نکاح واخلی اصیلی مومنی ښځی نو له هغو ښځو چی مالکانی سوی دی بنی لاسونو ستاسی له وینځو ستاسی چی مومنی وی»
- «والله اعلم بایمانکم بعضکم من بعض» ترجمه : «او الله ته بنه معلوم دی ایمان ستاسی ځینی ستاسی له ځینو نورو یی»
- «فانکحو هم باذن اهلهن واتو هن اجورهن بالمعروف محصنت غیر مسفحت ولا متخذت اخدان فاذا احصن فان اتین بفاحشة فعلیهن نصف ماعلی المحصنت من العذاب» ترجمه : «نو په نکاح واخلی وینځی په اذن د خاوندانو د دوی او ورکړی تاسی دوی ته مهرونه د دوی په معروف سره چی وی دوی عفیفی ساتلی سوی او زنا چی نه وی زنا کوونکی په ښکاره او نه وی نیوونکی د پټو یارانو نو کله چی میړوښی کړی سوی دوی پس که راتله وکړه دوی په فاحشه سره نو دی په دوی باندی نصف د هغه چی په اصیلو ښځو باندی وی له عذابه»
- «ذلک لمن خشی العنت منکم وان تصبروا خیرلکم والله غفور رحیم» ترجمه : «دا دپاره د هغه چی دی چی ویریږی له ضرره له تاسی ځخه او داچی صبر وکړی تاسی خیر تاسی ته او الله بنه مغفرت کوونکی

دی، ډیر رحم والا دی»

- «یرید الله ان یخفف عنکم وخلق الانسان ضعیفاً» ترجمه : «اراده لری الله ددی چی سپک کړی له تاسی نه او پیداکړی سوی انسان ضعیف»
- «ولاتنکحوا مانکح اباوکم من النساء الا ماقد سلف انه کان فاحشه و مقتاً وساء سبیلاً» ترجمه : «او مه اخلی تاسی په نکاح سره هغه چی نکاح کړی دی پلورنو ستاسی له ښځو مګر هغه چی پخوا له دی تی سوی دی بیشکه چی دا دی فاحش او دی مبغوض او بده لاره»
- «حرمت علیکم امهتکم وبنتکم و اخوتکم و عمتکم و خلتکم و بنت الاخ و بنت الاخت و امهتکم التی ارضعنکم واخوتکم من الرضاعة» ترجمه : «حرامی کړی سوی دی پر تاسی میندی ستاسی او لونی ستاسی او خویندی ستاسی او تروړګانی ستاسی او خالی ستاسی او لونی د ورور او لونی د خور او میندی ستاسی هغه چی تی یی درکړی وی تاسی ته او خویندی ستاسی له جهته د تی رودلو»
- «و امهت نسائکم و ربائبکم التی فی حجورکم من نسائکم التی دخلتم بهن فان لم تکونوا» ترجمه : «او میندی ډښځو ستاسی او پرکټیانی ستاسی هغه چی په غیږو ستاسی کی له هغو ستاسی هغه چی دخول کړی تاسی دوی سره پس که نه وی تاسی چی»
- «دخلتم بهن فلاجناح علیکم و حلائل ابنائکم الذین من اصلابکم و ان تجمعوا بین الاختین الا ماقد سلف ان الله کان غفوراً رحیماً» ترجمه : «دخول کړی دی تاسی له دوی سره نو نسته هیڅ ګناه پرتاسی باندی د پرکټیو کی، ښځی د زامنو ستاسی هغه چی له شاګانو ستاسی دی او چی وکړی په مینځ د دوو خویندو کی مګر هغه چی په تحقیق سره پخوا تیر سوی دی بیشکه چی الله دی ښه مغرفت کوونکی او ډیر رحم والا»
- «وعلم آدم الاسماء کلها ثم عرضهم علی الملئکة فقال انبئونی باسماء هولاء ان کنتم صدقین» ترجمه : «او وښودل الله آدم ته نومونه ټول بیا یی ور وړاندی کړل هغه ټول شیان پرښتو ته نو وویل خبر راکړی تاسی ماته په نومونو د دی شیانو سره که یی تاسی رښتیا ویوونکی»
- «قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون یرفع الله الذین امنو والذین اوتوا العلم درجات» ترجمه : «ووایه ای محمده! ایا برابر دی هغه کسان چی پوهیږی او هغه کسان چی نه پوهیږی پورته کوی الله د هغو کسانو درجی چی ایمان یی راوړی او د هغو کسانو چی ورکړل سوی دی علم»
- «قالوا سبحنک لا علم لنا الاما علمتنا انک انت العلیم الحکیم» ترجمه : «وویل پرښتو نسبت د پاکی کوو تاته نسته هیڅ علم مونږ لره مګر په هغه شی چی ښودلی دی تا مونږ ته، بیشکه ته همداته ښه عالم او ښه د حکمت خاوند یی»
- «قال یآدم انبئهم باسمائهم فلما انباهم باسمائهم قال الم اقل لکم انی اعلم غیب السموت والارض واعلم ماتبدون وماکنتم تکتمون» ترجمه : «وویل الله ای آدمه! خبر کړه دوی په نومونو ددی شیانو سره نوکله چی آدم خبر ورکړی دوی ته په نومونو دهغو شیانو وویل الله ایا نه و ویلی ماتاسو ته چی بیشکه زه پوهیږم په پټو شیانو د آسمانونو او د مځکی او پوهیږم پر هغو شیانو چی ښکاره کوی یی تاسی او په هغو شیانو چی یی تاسی چی پټوی یی په زړونو کی»
- «واصنع الفلک باعیننا و وحینا و لاتخاطبنی فی الذین ظلموا انهم مغرقون» ترجمه : «او جوړه کړه ته بیړۍ په اعین زمونږ او په حکم زمونږ او مه کوه خبری ماسره په حق د هغو کسانو چی ظالمان سوی دی چی بیشکه په دوی باندی حکم کړی سوی د غرقیدلو»
- «و یصنع الفلک و کلما مرعلیه ملامن قومه سخروا منه قال ان تسخروا منا فانا نسخر منکم کما تسخرون» ترجمه : «او جوړوله بیړۍ حال دا هرکله چی تیریدله به په ده (نوح) ډله له قومه د نوح نو مخسری به یی کولی په ده پوری نو وویل که مخسری کوی تاسی په مونږ پوری نو بیشکه مونږ به هم مخسری وکړو په تاسی پوری لکه چی اوس مخسری کوی تاسی»
- «وقال نوح رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً» ترجمه : «او وویل نوح : ای ربه زما! مه پریږده! په مځکه باندی له کافرانو څخه هیڅ اوسیدونکی»
- «انک ان تذرهم یضلوا عبادک ولا یلدو وآ الافاجراً کفارًا» ترجمه : «بیشکه ته که چیری پریږدی دوی نو ګمراهان به کړی دوی مؤمنان بندګان ستا او نه زیږوی دوی مګر خو فاجر»
- «قلنا احمل فیها من کل زوجین اثنین و اهلک الامن سبق علیه القول ومن امن» ترجمه : «وویل مونږ سواره کړه پدی بیړۍ کی له هری جوړی دوه دوه او اهل خپل مګر مه سپروه هغه چی ړومبی سوی ده په

ده وینا او هغه سپاره کړه چې ایمان یې راوړی دی»

- «وهی تجری بهم فی موج کالجبال» ترجمه : «او دی بیړی به وړل دوی په موجونو کې لکه غرونه»
- «و علمنه صنعة لبوس لکم لتحصنکم من باسکم فهل انتم شاکرون» ترجمه : «او ښودلی وه مونږ دغه (داؤد) ته جوړول د زغرې تاسی ته دپاره د دی چې وساتی تاسی له ضرره د جنګ ستاسی. پس آیا ئې تاسی شکر کوونکی»
- «ولقد اتینا داود منا فضلاً یجبال اوبی معه والطیر و النا له الحدید» ترجمه : «او خامخا په تحقیق ورکړی ؤ مونږ داود ته له جانبه خپله فضل ای غرو راوګرځوئ غږونه خپل له ده سره مرغانو هم اوپسته کړی وه مونږ ده ته اوسپنه»
- «ان اعمل سبغت و قدر فی السرد و اعملوا صالحا انی بما تعملون بصیرٌ» ترجمه : «چې جوړوه زغرې ارتی اوږدی او اندازه کوه په اوبدلو کې او عمل کوی تاسی د نیکیو بیشکه زه یم چې یم پر هغو کارو چې تاسی یې کوئ ښه لیدونکی یم»
- «فلبث فیهم الف سنةٍ الا خمسین عاماً» ترجمه : «نو ودریدپه مینځ د خپل قوم کې مګر پنځوس کاله»
- «القرآن لاستعذو بالله من الشیطان الرجیم» ترجمه : «بیاهرکله چې وغواړی قرآن ووایی نو پناه وغواړه په الله له شره د شیطان رټل سوی نه»
- «شهر رمضان الذی انزل فیه القران» ترجمه : «روژه هغه میاشت ده په کوم کې چې قرآن الکریم نازل سوی دی»
- «انا انزلنا فی لیلة القدر» ترجمه : «د قرآنکریم نزول د قدر په شپې باندی سوی دی»
- «اقرأ باسم ربک الذی خلقَ خلق الانسان من علیَ اقرا وربک الاکرم الذی علم بالقلمَ علم الانسان مالم یعلم» ترجمه : «ولوله په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالونکی چې پیداکړی یې دی انسان له ټوټو د ټرل سویو وینو څخه. ولوله حال داچې رب ستا لوی کریم دی هغه رب چې ښودلی یې دی په قلم سره ښوونه یې کړی ده انسان ته د هغو شیانو چې دی پرې نه پوهیده»
- «لایمسه الا المطهرون» ترجمه : «هغه ته لاس نه وروړی مګر پاکان»
- «وان کنتم فی ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله و ادعوا شهداء من دون الله ان کنتم صدقین» ترجمه : «که په شک کې یاست دهغه کلام په باب چې مونږ په خپل بنده باندی نازل کړی دی نو د هغه په شان سورة راوړی او له الله پرته خپل مرستیالان وغواړئ که چیرې ریښتینی یاست»
- «ومثل الذین ینفقون اموالهم ابتغاء مرضات الله و تثبیتا من انفسهم کمثل جنة بربوة اصابها وابل فاتت اکلها ضعفین فان لم یصبها وابل فطل والله بما تعملون بصیر» ترجمه : «او دهغو کسانو مثال چې د الله د رضا دپاره خپل مالونه مصرفوی او دخپلی عقیدی په اساس داکار کوی هغه باغ ته ورته دی چې په یوه غونډی وی او سخت باران ورته رسیږی نو بیا دوه برابره میوه راوړی که چیرې سخت باران ورته نه رسیږی نو بیا پرخه هم ورته کفایت کوی او الله ستاسو د عملونو لیدونکی دی»
- «ایود احدکم ان تکون له جنة من نخیل و اعناب تجری من تحتها الانهر له فیها من کل الثمرت و اصابه الکبر و له ذریة ضعفاء فاصابها اعصار فیه نار فاحترقت کذلک یبین الله لکم الایت لعلکم تتفکرون» ترجمه : «آیا یو له تاسو خوښوی چې ده لره د خرما او انګورو باغ وی او ترهغه لندی ویالی بهیږی ده په دی باغ کې هر ډول میوی وی او ددی باغ خاوند ته زوړوالی ورسیږی او ده لره واړه اولادونه وی نو دغه باغ ته طوفان ورسیږی چې اور هم پکښی وی نو بیا وسوځی همدا راز الله تاسو ته نښی بیانوی ترڅو فکر وکړئ»
- «یایهاالذین امنوا انفقوا من طیبت ماکسبتم و مما اخرجنالکم من الارض ولا تیممواالخبیث منه تنفقون و لستم باخذیه الا ان تغموضوا فیه واعلموا ان الله غنی حمید» ترجمه : «ای مومنانو! له پاکو شیانو چې تاسو ګټلی صدقه ورکړی او د هغه څخه چې مونږ تاسو ته له مځکی راایستلی دی او له هغه څخه د نابود شی د نفقی قصد مه کوئ په داسی حال کې چې تاسو ئی اخستونکی نه یاست مګر به سترګی پټی کړی په اخستو د هغه کې او پوهـ سی چې بیشکه الله بی پروا او ستایل سوی دی»
- «الشیطان یعدکم الفقر ویامرکم بالفحشاء والله یعدکم مغفرة منه و فضلا والله واسع علیم» ترجمه : «شیطان تاسو ته د تنګلاسی وعده درکوی او تاسو ته امر کوی په بی حیایی او خدای تاسو ته د بښنی او فضل وعده درکوی له خپلی خواڅخه او خدای جواد او دانا دی»

- «یوتی الحکمة من یشاءُ ومن یوت الحکمة فقد اوتی خیرا کثیرا و مایذکر الا اولوا الالباب» ترجمه : «چاته چې وغواړي پوهـ ورکوی او چاته چې پوه ورکړ سو نو ډیر خیر ورته ورکړ سو او عبرت نه اخلی مګر د عقلونو خاوندان»
- «وما انفقتم من نفقة او نذرتم من نذر فان الله یعلمه وما للظلمین من انصار» ترجمه : «او هغه چې تا سو له خیرات څخه ورکوی یا له نذر څخه نذر کوی نو بیشکه الله پری پوهیږی او ظالمانو ته هیڅ مرستندوی نسته دی»
- «ان تبدوا الصدقات فنعماهی وان تخفوها و توتوها الفقراء فهو خیرلکم ویکفر عنکم من سیاتکم والله بما تعملون خبیر» ترجمه : «که صدقی ښکاره کړی نو داکار غوره دی او که یی پټی فقیرانو ته ورکړی نو داتاسو ته غوره دی او لیری به کړی الله ستاسو له ګناهونو څخه او الله له هغه چې تاسو کوی خبر دی»
- «لیس علیک هدهم ولکن الله یهدی من یشاء و ماتنفقوا من خی لانفسکم وما تنفقون الاابتغاء وجه الله وما تنفقوا من خیریوف الیکم وانتم لاتظلمون» ترجمه : «د دوی لارښوونه په تاسو باندی نه ده او الله چاته چې وغواړی لارښوونه کوی او هغه چې تاسو له مال څخه ورکوی نو دا ستاسو دپاره دی او تاسو نفقه نه ورکوی مګر د الله دپاره او هغه چې تاسو له مال څخه ورکوی پوره درکول کیږی ثواب د هغه او په تاسو به ظلم ونه سی»
- «للفقراء الذین احصروا فی سبیل الله لایستطیعون ضربا فی الارض یحسبهم الجاهل اغنیاء من التعفف تعرفهم بسیمهم لایسئلون الناس الحافاً» ترجمه : «خیرات د هغو فقیرانو دپاره دی چې د الله په لار کی بند سو په مځکه کی سفر نسی کولی ناپوهـ دوی اغنیاء ګڼی ځکه چې دوی سوال نکوی ته دوی له ځیرو څخه پیژنی دوی له خلکو څخه په الحاف سوال نه کوی»
- «وما تنفقوا من خیر فان الله به علیم» ترجمه : «او هغه چې له مال څخه مصرفوی نو الله په هغه دانا دی»
- «الذین ینفقون اموالهم بالیل والنهار سرا و علانیة فلهم اجرهم عند ربهم و لاخوف علیهم ولاهم یحزنون» ترجمه : «هغه کسان چې خپل مالونه په شپه او ورځ په پټه او ښکاره مصرفوی نو دوی لره ثواب دی د خپل الله په نزد او په دوی به نه ویره وی او نه به دوی خپه سی»
- «و مثل الذین ینفقون اموالهم ابتغاء مرضات الله» ترجمه : «او مثال د هغو کسانو چې خپل مالونه د الله د رضاء دپاره نفقه کوی»
- «یایهاالذین امنوا انفقوا من طیبت ماکسبتم و مما اخرجنا لکم من الارض و لاتیمموا الخبیث منه تنفقون و لستم باخذیه الا ان تغموضوا فیه» ترجمه : «ای مومنانو نفقه کړی په لار د الله کی د هغو حلال مال څخه چې تاسو ګټلی او له هغو څخه چې مونږ درته له مځکی څخه ایستل او له هغه څخه خراب مال مه نفقه کوی چې که څوک یی تاسو ته درکوی نو تاسو په خپله هغه نه اخلی مګر چې تاسی د هغه په اخستلو کی سترګی پټی کړی»
- «یایهاالذین امنوا لا ترخلوا بیوتا غیر بیوتکم حتی تستا نسوا و تسلموا علی اهلها» ترجمه: «ای مسلمانانو پرته له خپل کورنه د بل چا کورته تر هغه مه ننوځی چې اجازه مو نه وی غوښتی او کله چې د ننوتلو قصد مو وکړ نو د هغه کور پر خاوندانو باندی سلام واچوئ»
- «و اذا حییتم بتحیة فیحوا باحسد منها اوروها» ترجمه: «او کله چې مو تعظیم وسی په سلام ویلو سره، نو تاسی هم تعظیم وکړی په یوی داسی کلیمی سره چې له هغی څخه غوره او بهتره وی او یا په هغی کلیمی (په مثل د هغی سره)»
- «و لتکن منکم امة یدعون الی الخیر و یامرون بالمعروف و ینهون عن المنکر و اولیک هم المفلحون» ترجمه: «باید وی ستاسو څخه یوه داسی ډله چې راوبولی خلک نیکی ته او امر وکړی په نیکو کارونو، او منع کړی له ناوړو کارونو څخه او هغه ډله دوی دی بریالی او کامیاب»

د حضرت محمد (ص) څخه ځینی روایت سوی حدیثونه او د هغوی ترجمه

- «ثلث جدهن جد وهزلهن جذ» ترجمه : دری شیان دی چې قصد یی قصد او ټوکه یی هم قصد ګڼل کیږی چې هغه نکاح، طلاق او قسم دی
- «طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة» ترجمه : «د علم طلب پر هرمسلمان نر او ښځه فرض دی»
- «اطلبو العلم ولوکان بالصین» ترجمه : «طلب د علم وکړی که څه هم چې په چین کښی وی»
- «لامهر اقل من عشرة دراهم» ترجمه : «د لسو روپیو څخه کم مهر نسته»

- «من کانت له امرا تان و مال الی احدهما فی القسم جاءَ یوم القیمة و شقه مایل» ترجمه : «څوک چی دوی بنځی لری او د حقوقو په تقسیم کښی یوی ته میلان وکړی، د قیامت په ورځ به په داسی حال چی یو طرف ئی کوږ وی د حشر میدان ته راځی»
- «لا رضاع بعد الفصال» ترجمه : «له جدایی څخه وروسته رضاع نسته»
- «یحرم من الرضاع مایحرم من النسب» ترجمه : «حرامیږی په رضاع سره هغه څه چی حرامیږی په سب سره»
- «کنت کنزاً مخفیاً فاحببت ان اعرف فخلقت الخلق الاعرف» ترجمه : «زه پټه خزانه وم پس دوست می وګڼله داچی وپیژندل سم پس پیدا می کړ خلق ددی لپاره چی دوی ما وپیژنی»
- «الاسلام ان تشهد ان لااله الاالله وان محمداً رسول الله وتقیم الصلوة و توتی الزکوة وتصوم رمضان وتحج البیت ان استطعت الیه سبیلاً» ترجمه : «د اسلام حقیت دادی چی شاهدی ورکړی په دی باندی چی نسته هیڅ معبود برحق غیر د الله (ج) څخه او شاهدی ورکړی په دی باندی چی بیشکه محمد (ص) د الله (ج) رسول دی»
- «ان تومن الله وملائکة وکتبه و رسله والیوم الاخر وتومن بالقدر خیره وشره» ترجمه : «د ایمان حقیقت دادی چی کلکه عقیده او باور وکړی پر الله (ج) او ایمان راوړی پر ملائکو دالله (ج) او پر کتابو د هغه او پر پیغبرانو د هغه او په ورځ د آخرت او په تقدیر باندی چی ښه او بد یی ټول د الله (ج) له خواڅخه دی»
- «من حلف کاذباً دخلهُ الله النار» ترجمه : «هغه څوک چی په درواغو قسم وکړی اله (ج) به هغه شخص اور ته واچوی»
- «اتدرون ماالایمان بالله وحده» ترجمه : «آیاپوهیږی چی ایمان یوازی پ الله (ج) باندی څه دی؟
- «شهادة ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله» ترجمه : «شاهدی ورکول دی د الله (ج) پر توحید او د محمد رسول الله (ص) پر رسالت باندی»
- «لایومن احدکم حتی اکون احب الیه من والده و ولده والناس اجمعین» ترجمه : «ایمان نه راوړی یو له تاسی څخه یعنی کامل مؤمن نه ګرځی تر هغه پوری چی ما له خپل مور او پلار، اولاد او د ټولو خلکو څخه زیات دوست ونه ګڼی»
- «کل مصور فی النار» ترجمه : «هر تصویر جوړونکی په دوزخ کی وی»
- «من اراد الدنیا فلیتجر و من اراد الاخرة فلیتزهد و من ارادهما فلیتعلم» ترجمه : «څوک چی د دنیا اراده ولری نو باید تجارت وکړی او څوک چی د آخرت اراده ولری نو باید زهد او تقوا وکړی او څوک چی د دواړو اراده ولری نو باید علم زده کړی»
- «سبحانک اللهم و بحمدک استغفرک و اتوب الیک» ترجمه : «پاکی ده تالره ای الله ! ستا حمد او ثنا وایم له تاڅخه بخښنه غواړم او تاته رجوع کوم»
- «المومن یغبط و المنافق بحسد» ترجمه : «مومن غبطه کوی او منافق حسد کوی»
- «قال رسول الله (ص) تعلموا الفرائض و علموها الناس فانها نصف العلم» ترجمه : «رسول الله (ص) فرمائلی دی : فرائض (د میراث علم) هم خپله او هم نوو ته ورزد کړئ ځکه چی دا نیمائی علم دی»
- «عن عمر بن الخطاب (رض) قال: قال رسول الله (ص) انما الاعمال بالنیات و انما لامری مانوی فمن کانت هجرته الی الله و رسوله فهجرته الی الله و رسوله و من کانت هجرته الی دنیا یصیبها او امراةٍ یتزوجها فهجرته الی ما هاجی الیه (متفق علیه)» ترجمه: «د عمر بن خطاب څخه روایت دی: حضرت محمد (ص) فرمائی هرکله د عملونو ثواب په نیت پوری اړه لری، او همیشه د یو شخص دپاره هغه دی چی نیت یی کړی وی، نو که سړی د الله (ج) او رسول دپاره هجرت یی په نیت کی وی نو واقعاً دغه هجرت یی د الله (ج) او رسول دپاره دی مګر که دده په نیت کی پیسی او یا د ښځی نکاح کول وی نو اجر او ثواب به یی د هغه شی دپاره وی د کوم نیت چی یی کړی وی.»
- «عن یونس بن مالک (رض): ان رجلا قال: یا رسول الله (ص) متی الساعة؟ قال رسول الله (ص) و یلک و ما اعددت لها؟ قال: ما اعددت لها الا انی احب الله و رسولهُ. قال: انت مع من احببت. قال انس (رض): فما رأیت المسلمین فرحجو ابشی بعد الاسلام فرحهم بها» ترجمه: «د حضرت انس (رض) څخه روایت دی چی په تحقیق سره یو سړی وویل: ای رسول الله (ص) قیامت کله او څه وخت دی؟ حضرت محمد (ص) وفرمایل: ستا له دی حال نه تعجب کوم، څه تیاری دی ورته نیولی دی. نوموړی سړی وویل: ددی څخه پرته چی د

الله (ج) او د هغه د پیغمبر (ص) سره مینه لرم کومه بله تیاری می نه ده ورته نیولی. حضرت محمد (ص) وفرمایل: ته د قیامت په ورځ له هغو کسانو سره یی چی مینه ورسره لری. حضرت انس (رض) وایی: هیڅکله می مسلمانان وروسته له اسلام څخه په بل شی دومره خوشحاله ونه لیدل لکه ددی خبری په اوریدلو سره»

- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): ان الله تعالی یقول یوم القیامة: این المتحابون؟ بجلالی الیوم اظلهم فی ظلی یوم لاظل الاظلی.» ترجمه: «د حضرت ابوهریرة (رض) څخه روایت دی چی فرمائی: حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی: په تحقیق سره الله تبارک و تعالی د قیامت په ورځ فرمائی: چیرته دی هغه کسان چی خاص زما د رضا د حاصلولو په خاطر ئی یو له بله سره مینه کوله؟ په خپل عظمت او جلال می قسم یادوم چی نن او په داسی ورځ کښی چی زما د رحمت د سیوری نه بلی سیوری نه سته دغه کسانو ته د خپل رحمت په سویر کښی ځای ورکوم»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): کل امتی یدخلون الجنة الامن ابی قیل: ومن ابی؟ قال: من اطاعنی دخل الجنة و من عطانی فقد ابی» ترجمه: «له حضرت ابی هریرة څخه روایت دی چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی: زما ټول اُمت جنت ته داخلیږی مګر هغه څوک چی اباء راوړی. چا وویل: هغه څوک چی اباء راوړی؟ حضرت محمد (ص) وفرمائیل: هغه څوک چی زما اطاعت او پیروی کوی جنت ته داخلیږی او هغه څوک چی نافرمانی کوی په حقیقت کښی د جنت د ننوتلو څخه مخ اړوی.»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: سمعت رسول الله (ص) یقول: ما نهیتکم عنه فاجتنبوه و ما امرتکم به فاتوا منه ما استطعتم فانما اهلک الذین من قبلکم کثرة مسائلهم و اختلافهم علی انبیائهم» ترجمه: «حضرت ابی هریرة (رض) روایت کوی چی د حضرت محمد (ص) څخه می واوریدل چی ویی فرمائیل: له هغه څه څخه چی می منع کړی یاست پرهیز ځینی وکړی او پر هغه څه چی می امر کړی یاست خپل د توان او طاقت په اندازه یی عملی کړی، ځکه ستاسی څخه پخوا خلک په دی خاطر تباه سوی دی چی د خپلو پیغمبرانو څخه یی زیات سوالونه کول، او د دوی په باره کښی یی له زیات اختلاف څخه کار اخستئ»
- «عن عایشة (رض) قالت: قال رسول الله (ص): تفضل الصلوة التی یُستاک لها علی الصلوة التی لا یُستاک لها سبعین ضعفاً» ترجمه: «د حضرت عایشه (رض) څخه روایت دی چی حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی: د هغه لمانځه ثواب چی مسواک ورته وهل سوی وی د هغه لمانځه پر ثواب چی مسواک نه وی ورته وهل سوی اویا ځلی زیات دی»
- «عن ابی سلمة عن زید بن خالد الجهنی قال: سمیعت رسول الله (ص) یقول: لولا ان اشق علی امتی لامرتهم بالسواک عن کل صلوة» ترجمه: «که چیری له دی څخه نه ډاریدئ چی زما د اُمت لپاره به مشقت او تکلیف سی نو ما به هرومرو دوی د هر لمانځه لپاره په مسواک وهلو مکلف کړی وای»
- «عن عایشة (رض) قالت: قال رسول الله (ص): السواک مطهرة للفم مرضاة للرب» ترجمه: «مسواک د خولی پاکوونکی او د پرودګار راضی کوونکی دی»

- «عن انس (رض) قال: قال رسول الله (ص) یا نبی: ان قدرت ان تصبح و تمسی و لیس فی قلبک غش لا حد فافعل ثم قال: یا نبی! و ذلک من سنتی و من احب سنتی فقد احبی و کان معی فی الجنة» ترجمه: «ای بچیه! که وکولای شی چی شپه او ورځ داسی تیره کړی چی په زړه کښی دی د هیچا په مقابل کښی کینه او عداوت نه وی نو دا کار وکړه. وروسته له دی څخه حضرت محمد (ص) وفرمائیل: ای بچیه! دا زما د سنتو څخه یو سنت دی، څوک چی زما سنت دوست ګڼی او ورسره مینه لری، په حقیقت کښی ما دوست ګڼی او په جنت کښی به زما سره یو ځای وی»

- «عن جریر (رض) قال: قال رسول الله (ص): من سن فی الاسلام سنة حسنة فله اجرها و اجر من عمل بها من بعده من غیر ان ینقص من اجورهم شیی و من سن فی الاسلام سنة سیة کان علیه وزرها و وزرها من عمل بها من بعده من غیر ان ینقص من اوزارهم شیئً» ترجمه: «هغه څوک چی به اسلامی دین کښی غوره او بهتره لار ایجاد او بنیان ګذاری کړی ده لره الله (ج) ددی نیک عمل اجر او ثواب او هغه د هغو کسانو اجر او ثواب ورکوی چی له ده څخه وروسته په هغه لاره تللی وی او دا پرته له دی نه چی د هغو کسانو د اجر او ثواب څخه کوم شی کم سی او که کوم څوک په دین کی غلطه لار تهداب کړی پرده باندی ددغه ناوړه عمل ګناه او هم د هغو کسانو ګناه پریوځی کوم چی له ده څخه وروسته پر تللی دی او دا پرته له دی څخه چی د هغو کسانو د ګناه څخه کوم شی کم سی»

- «عن ابی هریرة (رض) قال: بال اعرابی فی المسجد فقام الناس الیه لیقعوا فیه فقال النبی (ص) دعوه واریقوا علی بوله سجلاً من ماءٍ او ذنوباً من ماءٍ فانما بعثتم میسرین و لم تبعثوا معسرین» ترجمه: «یوه صحرایی سړی په مسجد کښی بولی وکړی، خلک راولاړ سول چی هغه ووهی، حضرت محمد (ص) وفرمائیل: دی مه وهی او دده پر بولو یو سطل اوبه واچوی، تاسو د اسانی او سهولت استازی یاست نه د سختی او تشدد»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): السخاءُ شجرة فی الجنة فمن کان سخیا اخذ بغصن منها فلم یترکه الغصن حتی یدخله الجنة. والشح شجرة فی النار فمن کان شحیحاً اخذ بغصن منها فلم یترکه الغصن حتی یدخله النار» ترجمه: «په جنت کی د سخاوت په نامه یوه درخته سته چی سخی سړی یی یو ښاخ نیسی او دغه ښاخ یی تر هغه وخته نه ایله کوی چی جنت ته یی نه وی داخل کړی، دغه راز په دوزخ کی د بخل په نامه یوه درخته سته او بخیل سړی یی یو ښاخ نیسی او تر هغه وخته یی نه ایله کوی چی دوزخ ته یی وانه چوی»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): اذ امات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثه: من صدقة جاری:، او علم ینتفع به، او ولد صالح یدعوله» ترجمه: «کله چی انسان له دی دنیا څخه رحلت وکړی د اعمالو ثواب یی قطع کیږی گر له: صدقه جاریه، هغه عمل چی له هغه څخه گټه اخستل کیږی او هغه اولاد چی ده ته وروسته له مرگه دعا کوی»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): ان مما یلحق المومن من عمله و حسناته بعد موته علما علمه و نشره و ولدا صالحا ترکه او مصحفاً ورثه او مسجد ابناه او بیتا لا بن السبیل بناه او نهرا اجراه او صدقه اخرجها من ماله فی صحته و حیاته تلحقه من بعد موته» ترجمه: «د هغو اعمالو له ډلی څخه چی اجر او ثواب یی د مومن سړی له مرگ څخه وروسته ورته رسیږی عبارت دی له: هغه علم چی نورو ته یی ورزده کړی او هغه په نشر کښی یی برخه اخستی ده، نیک او صالح اولاد چی یی له ځان څخه وروسته پر ایښی دی، قرآنکریم چی په میراث یی پریښی او یا ئی په خپل ژوند کی وقف کړی وی، هغه مسجد چی د پاک الله (ج) د رضا په خاطر یی آباد کړی وی، هغه کور چی د مسافرینو د استفادی دپاره یی جوړ کړی وی، هغه ویاله چی د مسلمانانو د عمومی استفادی دپاره یی آباده کړی وی او هغه صدقه او خیرات چی په خپل جوړ صورت یی نادارو او مسکینانو ته ورکړی وی»
- «عن عمر ان بن الحصین (رض) قال جاء رجل الی النبی (ص) فقال: السلام علیکم. فرد علیه ثم جلس فقال النبی (ص): عشر ثم جاء اخر فقال: السلام علیکم ورحمة الله. فرد علیه فجلس فقال: عشرون ثم جار آخر فقال: السلام علیکم ورحمة الله و برکاته فرد علیه فجلس، فقال ثلاثون» ترجمه: «یو سړی حضرت محمد (ص) ته راغی او ویی ویل: اسلام علیکم: نو ځواب یی ورکړی او نوموړی سړی کښیناست. حضرت محمد (ص) وفرمایل: لس، وروسته بیا بل سړی راغی و ویی ویل: اسلام علیکم و رحمة الله، حضرت محمد (ص) ځواب ورکړ او هغه سړی کښیناست، حضرت محمد (ص) وفرمائیل: شل، او بیا وروسته بل سړی راغی او ویی ویل: اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، نو ځواب یی ورکړ او نوموړی سړی کښیناست، حضرت محمد (ص) وفرماییل: دیرش»
- «عن انس (رض) ان رسول الله (ص) قال: یا نبی اذا دخلت علی اهلک فسلم یکون برکة علیک و علی اهل بیتک» ترجمه: «ای بچیه! کله چی خپل کور ته ننوځی، نو سلام واچوه ځکه دا خوی تا او ستاسو فامیل ته برکت راولی»
- «عن ابی امامة الباهلی (رض) قال: ذکر لرسول الله (ص) رجلان احدهما عالم و الاخر عابد فقال: رسول الله (ص): فضل العالم علی العابد کفضلی علی ادناکم. ثم قال رسول الله (ص): ان الله و ملئکته و اهل السماوات والارض حتی النملة فی جحرها و حتی الحوت لیصلون علی معلم الناس الخیر» ترجمه: «د حضرت محمد (ص) په حضور کښی د دوو کسانو په باره کی چی یو یی عابد او بل یی عالم و یادونه وسوه چی کوم یو یی بهتر دی. حضرت محمد (ص) وفرمائیل: پر عابد باندی د عالم فضیلت داسی دی لکه زما فضیلت پر کمترین ستاسو. وروسته بیا حضرت محمد (ص) وفرمایل: په تحقیق سره الله (ج)، ملایکی او د مځکی او آسمانونو اوسیدونکی، حتی میږیان په خپلو غارو او کبان په اوبو کښی د هغو کسانو دپاره دعاء کوی کوم چی د خلکو دپاره زده کړه کوی»
- «عن ابی هریرة (رض) عن النبی (ص): اسعد الناس بشفاعتی یوم القیامة من قال لا اله الا الله خالصاً من قلبه او نفسه» ترجمه: «نیک بخت ترین انسانان چی د قیامت په ورځ زما د شفاعت وړ گرځی هغه څوک دی چی (لا اله الا الله) کلمه یی په اخلاص او د زړه له کومی ویلی وی»

- «عن ابی ذربن جنادة و ابی عبدالرحمن معاذ بن جبل (رض) عن رسول الله (ص) قال: اتق الله حیثما کُنت. و اتبع السیئة الحسنة تمحها و خالق الناس بخلق حسن» ترجمه: «له الله (ج) څخه و ډاریږه هر چیری چی اوسی او کله چی دی ناوړه عمل سرته ورسول نو له هغه څخه وروسته غوره کار او نیک عمل وکړه ترڅو چی پخوانی ناوړه اعمال له مینځه یوسی او د خلکو سره په ښه خوی او اخلاق سره رفتار وکړه»
- «عن ابی هریرة (رض) ان رجلا قال: یا رسول الله (ص) ان لی قرابة اصلهم و یقطعوننی و احسن الیهم و یسیـُون الی و احلم عنم و یجهلون علی فقال (ص): لئِن کنت کما قلت فکانما تسقهم المل و لایزال معک من الله ظهیر علیهم ما دمت علی ذلک» ترجمه: «یوه سړی وویل: ای رسول الله (ص)! داسی خپلوان لرم چی زه یی حقوق اداء کوم مګر دوی زما سره اړیکی شلوی، زه د دوی په وړاندی او د دوی سره نیکی او ښه رویه کوم مګر دوی زما سره ناوړه چلند کوی، زه د دوی په مقابل کښی حلم، نرمی او بردباری څخه کار اخلم، حال داچی دوی زما سره جفا کوی او له زشتی او جهالت څخه کار اخلی، حضرت محمد (ص) وفرمایل: که چیری واقعیت داسی وی لکه چی وایی نو داسی حکم لری چی گویا په دوی دی تودی ایری خوړلی وی او تر هغه چی ددی وپه مقابل کښی همداسی رویی ته دوام ورکړی، د الله (ج) مرسته او کومک به درسره وی»
- «عن ابی سعید الخدری (رض) قال: سمعت رسول الله (ص) یقول: من رای متکم منکراً فلیغرة بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه و ذلک اضعف الایمان» ترجمه: «څوک چی غیر مشروع کار ووینی نو باید هغه په خپل لاس سره اصلاح او منع کړی، او که یی چیری قدرت نه درلود نو دی په ژبه سره د هغه مخنیوی وکړی او که یی دا توان هم نه درلود نو باید هغه په زړه کښی بد وګڼی چی دا حالت د ایمان ډیره کمزوری مرحله ده»
- «عن ابی موسی الاشعری (رض) قال: قال رسول الله (ص): مثل المومن الذین یقرا القران مثل الا ترجه ریحها طیب و طعمها طیب، و مثل المومن الذی لا یقرا القران کمثل الثمرة لاریح لها و طعمها حلو و مثل المنافق الذین یقرا القران کمثل الرحانة ریحها طیب و طعمها مر، و مثل المنافق الذی لا یقرا القران کمثل الحنظلة لیس لها ریح و طعمها مر» ترجمه: «د هغه مومن حال چی دقران عظیم الشان دایمی تلاوت کوی لکه ترنجبین دی چی بوی او خوند یی دواړه غوره دی، د هغه مون حال چی د قرآن عظیم الشان دایمی تلاوت نه کوی د خرما په شان دی چی بوی نه لری مګر خوند یی خوږ دی، د هغه منافق حال چی د قران کریم دایمی تلاوت کوی داسی دی لکه ریحان چی ښه بوی لری مګر تریخ خوند لری او د هغه منافق حال چی د قرآن کریم تلاوت نه کوی داسی دی لکه حنظل چی نه ښه بوی لری او هم خوند یی تریخ دی»
- «عن عبدالله بن مسعود (رض) قال: قال رسول الله (ص): علیکم بالصدق فان الصدق یهدی الی البرو ان البر یهدی الی الجنة و ما یزال الرجل یصدق و یحتری الصدق حتی یکتب عند الله صدیقاً» ترجمه: «تاسو باید رښتیا ویوونکی اوسئ ځکه رښتیا انسان نیکو کارونو ته راهنمائی کوی هغه انسان همیش رښتیا وایی او د رښتیا او رښتینوالی پسی هڅه کوی په پای کښی د الله (ج) په نزد د صدیق په نامه لیکل کیږی»
- «و ایاکم و الکذب یهدی الی الفجور و ان الفجور یهدی الی النار و مایزال الرجل یکذب و یتحجری الکذب حتی یکتب عندالله کذباً» ترجمه: «له دروغو څخه ځان وژغوری ځکه دروغ انسان فسق او فجور ته هڅوی او فسق او فجور انسان د دوزخ اور ته رسوی او هغه انسان چی په درواغو یی عادت موندلی وی او د دروغو په لټه کښی وی د الله (ج) په نزد د کذاب یعنی زیات درواغ ویوونکی په نامه یادیږی»
- «عن ابی هریرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): ان الله عزوجل یقول یوم القیامه: یا بن آدم مرضت فلم تعدنی قال: یا رب! کیف اعودک و انت رب العلمین. قال: اما علمت ان عبدی فلا نا مرض فلم تعده؟ اما علمت انک لو عدته لوجدتنی عنده» ترجمه: «الله (ج) د قیامت په ورځ فرمائی: ای د آدم بچیه: ناروغ شوم، مګر زما پوښتنی ته رانغلی. مخاطب انسان عرض کوی او وایی: ای زما پروردګاره! څرنګه ستا عیادت وکړم حال دا چه د ټولو عالمونو پروردګار ئی؟ الله (ج) فرمائی: آیا خبر نه سوی چی زما فلانی بنده ناروغ وؤ مګر ته یی پوښتنی ته ورنغلی؟ آیا نه پوهیدی چی که چیری ته د هغه پوښتنی ته تللی وای نو زه دی هملته موندلم»
- «عن ابن عباس (رض) قال: مرا النبی (ص) بقبور بالمدینه فا قبل علیهم بوجهه فقال: السلام علیکم یا اهل القبور! یغفر الله لنا و لکم انتم سلفنا و نحن بالاثر» ترجمه: «حضرت محمد (ص) په مدینه منوره کښی پر ځینو قبرو باندی د تیریدو په وخت کښی هغوی ته مخامخ ودریدو او وئی وفرمائل: سلام دی وی پر تاسو

باندی ای د قبرونو خاوندانو. الله (ج) دی مونږ او تاسی وبخښی، تاسو له مونږ څخه مخکی او مونږ ستاسو پسی در روان یو»

- «عن بريدة (رض) قال: كان رسول الله (ص) يعلمهم اذ اخرجوا الى المقابر: السلام عليكم اهل الديار من المومنين و المسلمين و انا ان شاء الله بكم لا حقون، نسال الله لنا و لكم العافيه» ترجمه: «حضرت محمد (ص) به اصحابو کرامو ته د قبرونو د زیارت د آدابو تعلیم ورکول او فرمائل ئی: کله چی د قبرونو زیارت ته ورځی نو داسی وواياست: سلام دی وی پر تاسو ای د مسلمانانو او مومنانو د کورونو خاوندانو. یقیناً چی مونږ هم که د الله (ج) رضا وه ستاسو پسی درتلونکی یو، له الله (ج) څخه د ځان او ستاسو لپاره د دنیا او آخرت له عذاب څخه د نجات او سلامتی غوښتنه کوم»
- «عن ابن مسعود (رض) ان رسول الله (ص) قال: كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها، فانها تزهدُ فى الدنيا و تذكر الاخرة» ترجمه: «ما تاسو مخکی د قبرونو له زیارت څخه منع کړی واست مګر د قبرونو زیارت وکړئ، ځکه د قبرونو زیارت په دنیا کښی د تقوی او پرهیزګاری او د آخرت د یادونی سبب ګرځي»
- «عن انس (رض) ان النبى (ص): كان اذا تكلم بكلمة اعادها ثلاثا حتى تفهم عنه و اذا اتى على قوم فسلم عليهم، سلم عليهم ثلاثا» ترجمه: «کله چی حضرت محمد (ص) خبری کولی مهم کلیمات به یی دري ځله تکرارول، تر څو خبری ئی ښه کړی سی او کله چی به د خلکو کومی ډلی ته راغی او سلام به یی اچواوه نو دري ځله به یی سلام تکراراوه»
- «عن عايشة (رض) قالت: كان كلام رسول الله (ص) كلاما فصلا يفهمه كل من يسمعه» ترجمه: «د حضرت - محمد (ص) ګفتار واضح او صریح وؤ چی هر اوریدونکی به پری پوهیده»
- «عه ابى هريرة (رض) قال: قال رسول الله (ص): تنكح المراة الاربع لمالها و لحسبها و لجمالها و لدينها فاضفر بذات الدين تربت يداک» ترجمه: «حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی: ښځه د څلورو صفتونو په خاطر په نکاح کیږی: د مال او شتو، د کورنی مقام او منزلت، حسن او دینداری په منظور. نو د دینداری ښځی په لټه کی اوسه لاسونه دی په خاورو سته»
- «عن شداد بن اوس (رض) قال: قال سول الله (ص): الكيس من دان نفسه و عمل لما بعد الموت و العاجز من اتبع نفسه هواه و تمنى على الله» ترجمه: «حضرت محمد (ص) فرمائیلی دی: عاقل انسان هغه څوک دی چی خپل نفس همیشه په خپل کنترول کښی ولری، او د آخروی ژوند لپاره تیاری ونیسی او ناران سړی هغه څوک دی چی خپل نفس د خپلو نفسانی خواهشاتو تابع وګرځوی او بیا د الله (ج) د رضا امیدوار هم وی»
- «عن عمر بن الخطاب (رض) قال: قال رسول الله (ص): ان افضل عباداالله عند الله منزلة يوم القيامة امام عادل رقيق، و ان شر الناس عندالله منزلة يوم القيامه امام جائر خريق» ترجمه: «حضرت محمد (ص) فرمائیل یدی: یقیناً د قیامت په ورځ د الله (ج) په نزد د مقام او منزلت له مخی ډیر ښه بنده عادل او زړه سوانده پاچا دی او یقیناً د قیامت په ورځ د الله (ج) په نزد ډیر بد او ناوړه انسان ظالم او بدخویه پاچا دی»
- «عن ابى سعيد (رض) قال: قال رسول الله (ص) ان احب الناس الى الله يوم القيامه و اقربهم منه مجلساً امام عادل، و ان ابغض الناس الى الله يوم القيامه و شادهم عذاباً و فى رواية و ابعدهم منه مجلساً، امام جائر» ترجمه: «حضرت محمد(ص) فرمائیلی دی: په تحقیق سره د قیامت په ورځ د الله(ج) په نزد ډیر محبوب او نږدی انسان د مقام او منزلت په لحاظ عادل پاچا او بدترین انسان او د الهی رحمت څخه لری شخص ظالم امام دی»

د حدیث شریفونو د ځینی روایت کوونکو پیژندنه

انس بن مالک: نو یی انس بن مالک دی د انصارو له جملی څخه یو جلیل القدر صحابی دی پوره لس کاله یی د رسول الله (ص) په خدمت کی تیر کړی دی د فقهاؤ صحابوو له جملی څخه دی. پیغمبر (ص) ورته داسی دعا کړی ده چی عمر دی اوږد او په مال او اولاد کی دی برکت سه او جنت دی نصیب سه نوموړی اصحابی د هجرت په ۹۳ کال په بصری کی وفات سو.

عبدالرحمن بن صخرالدوسي (ابوهريره): نوم یی عبدالرحمن بن سخرالدوسی لقب یی ابوهریره او د هجرت په اووم کال یی مدینی منوری ته تشریف راوړ او مسلمان سو، ډیره موده یی د پیغمبر (ص) خدمت کړی دی له همدی امله یی د رسول الله (ص) څخه ګڼ شمیر احادیث روایت کړی دی. دغه جلیل القدر صحابی په تقوی او پرهیزګاری مشهور او د لوړ ذکاوت خاوند و او د هجرت په ۵۷ ــ ۵۸ کال کی وفات سوی دی.

نواس بن سمعان: نوم یی نواس د سمعان زوی او د شامی راویانو څخه دی چی په مدینه منوره کی اوسیده.

اولس (۱۷) حدیثونه یی له پیغمبر (ص) څخه روایت کړی دی او د هجرت په ۵۰ کال کی وفات سو.

عبدالله بن عمرو بن العاص: نوم یی عبدالله، د پلار نوم یی عمرو او د نیکه نوم یی العاص ؤ، نسب یی له نبی کریم (ص) سره په کعب بن لؤي کی یوځای کیږی، زوی او پلار دواړه صحابه وه، خورا عالم او فاضل و، د قرآنکریم له مشهورو قاریانو څخه ؤ ډیر احادیث له پیغمبر (ص) څخه روایت کړی دی او د هجرت په ۶۵ کال وفات سوی دی.

سفیان: نوم یی سفیان د پلار نوم یی عبدالله د طائف اوسیدونکی دی د حضرت عمر (رض) د خلافت په موده کی د طائف والی ؤ

سهل بن سعد: نوم یی سهل د پلار نوم یی سعد الساعدی د جاهلیت په زمانه کی یی نمو حزن (غم) و، پیغمبر(ص) په سهل (ایمانی) باندی و نوماوه، په ډیرو غزاګانو کی یی ګډون کړی دی او د هجرت په ۸۸ کال کی د ۹۴ کلونو په عمر وفات سو.

عبدالله بن عمر: نوم یی عبدالله د پلار نوم یی عمر بن خطاب او په قوم قریش دی په مکه مکرمه کی په اسلام مشرف او بیا یی د خپل پلار سره مدینی منوری ته هجرت وکړ. په صحابه کرامو کی د فقهاؤ له جملی څخه ؤ، له نبی کریم (ص) څخه یی زیات شمیر احادیث روایت کړی دی او د هجرت په ۷۳ کال وفات سو.

عقبه بن ابومسعود: نوم یی عقبه کنیه یی ابو مسعود او په کوفه کی زیږیدلی دی، د هجرت په ۴۰ کال د حضرت علی (رض) د خلافت په دور کی وفات سوی دی.

حضرت عایشه بن ابوبکر: نوم یی حضرت عایشه (رض) د حضرت ابوبکر صدیق (رض) او د پیغمبر (ص) میرمن او د مسلمانانو مور ده د هجرت په دویم کال پیغمبر (ص) ورسره نکاح وکړه خورا فقیهه او عالمه وه په ځانګړی ډول د پیغمبر د ژواندانه له جزئیاتو څخه یی پوره آګاهی درلوده، له پیغمبر (ص) یی زیات شمیر احادیث روایت کړی دی او دهجرت په ۵۸ کال وفات سوه.

ام سلمة: نوم یی حضرت ام سلمه (رض) د بنو مغیره قبیلی ته منسوبه ده، له لومړنیو مسلمانانو څخه ده، ام سلمة د هغو مهاجرینو له جملی څخه ده چی حبشی او مدینی ته یی هجرت کړی دی. هغه د خپل میړه ابوسلمة له وفات څخه وروسته د هجرت په څلورم کال د شوال په میاشت کی د پیغمبر (ص) په نکاح کی راغله او د امهات المؤمنین په صفت کی داخله سوه له ۳۰۰ څخه زیات احادیث یی له پیغمبر (ص) څخه روایت کړی دی او بالآخره د هجرت په دیارلسم کال د ۸۴ کالو په عمر وفات سوه.

تمت بالخیر

یـادبنـت

یـادبنـت

یـادبنـت

یـادبنـت

یـادبنـت